صدا طالبان

ج٤، شماره١، رجب المرجب ١٤٤٧ق جنوري ٢٠٢٦م

له تړلو دروازو تر تړلي اقتصاد پورې موږ پاکستانیانو څه وبایلل؟



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ


ج٤، شماره١٥، رجب المرجب ١٤٤٧ق جنوري ٢٠٢٦م

حدیث نبوی ﷺ

له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه: تر ټولو غوره عمل کوم دی؟ ویې وفرمایل: پر الله او د هغه پر رسول ایمان راوړل. وویل شول: بیا کوم؟ ویې وفرمایل: د الله په لاره کې جهاد.
(بخاری و مسلم)

فهرست

ګرانو لوستونکو!

د خپلو ارزښتناکو وړاندیزونو، نظرونو، او فکري او مذهبي لیکنو لپاره په لاندې بریښنالیک او ټیلیګرام اکاونټ له مونږ سره اړیکه ونیسئ. مننه

https://t.me/mujallah_T
mujallah@proton.me

کله چې پوځي پروپاګند د جهادي پیغامونو له ګړندي بهیر سره مخ شو!

د پاکستان ګوډاګي ریاست، پوځي اسټېبلیشمنټ او د دوی له هراړخیز معنوي او مادي ملاتړ او حمایت څخه برخمنو ټولنیزو او چاپي رسنیو او ټلویزیوني چېنلونو یو ځل بیا د ګران هېواد پاکستان د مسلمان ملت او غیورو مجاهدو ولسونو د تېر ایستلو لپاره د دروغو یوې زړې او بې‌منطقه حربې ته لاس اچولی دی. په افغانستان کې د اسلامي امارت تر چتر لاندې د یو پاک، بشپړ او سوچه اسلامي نظام له بیا واکمنېدو او حاکمیت وروسته، دوی په دوامداره توګه دا تبلیغ او پروپاګند کوي چې د تحریک طالبان پاکستان مشران او مسؤلین ګواکې په افغانستان کې خوندي پناه‌ځایونه لري او همالته مېشت دي. دا بې‌بنسټه تورونه او درواغجنې ادعاوې د یوې فرسوده، زړې او بې‌منطقه تګلارې برخه ده، چې موخه یې د تحریک پراخ ولسي ملاتړ او په جهادي ډګر کې ژوره میداني شبکه او نیټورک کمزوری ښودل دي. خو حقیقت تل د دروغو له انبار څخه پیاوړی ثابت شوی دی.

د همدې پوځي دروغو او ریاستي پروپاګند په ځواب کې، د تحریک طالبان پاکستان اړوندو رسنیزو چېنلونو، عمر مېډیا، ضرب مؤمن او ضرب عمر په دې وروستیو ورځو کې د حقایقو یوه داسې لړۍ خپره کړې ده چې د دولتي او پوځي تبلیغاتو بشپړ رد پکې شوی دی. په دغو خپرونو کې د پاکستان له بېلابېلو سیمو او ولایتونو، له کراچۍ تر خیبره او له ګلګت بلتستانه تر د بلوچستان تر لیرې پرتو سیمو پورې، د تحریک طالبان پاکستان د پنځوسو څخه د زیاتو والیانو، قومندانانو او نورو مسؤلینو ویډیويي پیغامونه شامل دي. هر پیغام یو روښانه او یو شان دریځ څرګندوي: «موږ پر خپله خاوره مېشت، په خپل وطن کې موجود او همدلته د ناپاک پوځ په خلاف په جهادي مبارزه مصروف او فعاله یو.»

په دې شواهدو او ثبوتونو کې تر ټولو درنه ګواهي د خیبر ولایت له آسمان‌څکو غرونو څخه د تحریک طالبان پاکستان د عالیقدر زعیم شیخ ابو منصور عاصم مفتي نورولي محسود صاحب حفظه‌الله او شهیدو مشرانو ده. د تحریک طالبان پاکستان پخواني مرستیال امیر، شهید مفتي مزاحم

رحمه‌الله، چې څه موده وړاندې د دير ولايت په مربوطاتو کې د ناپاک پوځ له‌خوا په شهادت ورسېد؛ د خپل شهادت څخه يوازې څو ورځې وړاندې له باجوړ ولايت څخه يو ويډيويي پيغام خپور کړی و. په دغه پيغام کې د هغه دا جمله: «زه په باجوړ ولايت کې د خپلو سرسپارلو مجاهدينو ترڅنګ موجود يم» يوازې يو خبر نه و، بلکې يو داسې تندريز حقيقت و چې وروسته پرې د شهادت ابدي مهر ثبت شو. دا هغه شاهدي ده چې هيڅ يوه پوځي او رياستي اداره ترې انکار نشي کولای.

دغه څرګند شواهد دې ټکي ته اشاره کوي او دا خبره تاييدوي چې دولتي بيانيه او پوځي تبليغات په اصل کې د دوی د سختې وېرې او ماتې څرګندونه ده. د تحريک طالبان پاکستان جغرافيايي پراخوالی، منظم اداري او نظامي جوړښت، پراخ جهادي تشکيلات او په ولس کې ژور نفوذ او مشروعيت هغه واقعيتونه دي چې د پټولو لپاره يې د بهرنيو اړخونو نوم اخيستل کېږي. دا ډول تبليغاتي هڅې په خپله د تحريک د زياتېدونکي اغېز اعتراف بلل کېدای شي.

په پايله کې، د دولت او پوځي اسټېبلېشمنټ هره دروغجنه تبليغاتي ادعا د تحريک طالبان پاکستان د موجودو او فعالو شواهدو او فعاليتونو پر وړاندې بې‌وسه ښکاري. دا سپېڅلې مبارزه او جدوجهد د همدې خاورې د اصلي بچيانو په مشرۍ او قيادت کې، پر همدې خاوره جاري او روانه ده، او د پاکستان د جوړېدو (نظريهٔ پاکستان) د بنستيز او اصلي هدف، يعنې «د اسلامي نظام د قيام»، عملي هڅه او کوښښ دی. اوس د پاکستان مؤمنو او غيورو ولسونو ته پکار ده چې د تبليغاتو پر ځای هغه واقعيتونه وارزوي چې په ډاګه د دوی مخې ته ايښي دي.

کوم خلک چې د مجاهدينو خلاف خبرې کوي، هغوی د دوو سترو ګناهونه مرتکبين ګرځي؛ يو له جهاد څخه کرکه او نفرت کول، او دويم د مجاهدينو په خلاف خبرې کول دي. دوی بايد په دې پوه شي چې د الله جل‌جلاله په لار کې مجاهدين د الله ډېر نېږدې بندګان دي. يوه ورځ به الله تعالی حتماً د دوی دفاع کوي، او که الله تعالی وغواړي، نو د دوی په دښمنانو به سخت ذلت او رسوايي مسلطه کړي.

مفتي ابومنصور عاصم حفظه الله

لیکوال: مولوي عزت اللّه خالد

له وحشت او بربریت څخه ډکې جعلي مقابلې که د شکست بربنډې نښې

د جعلي مقابلو او وژنو تاریخ نوی نه‌دی. که د نون لیګ حکومت د پولیسو او سي‌ټي‌ډي وحشي عسکرو لخوا د جعلي مقابلو، وژنو او ترور مسلکي استاد او بنسټګر وبولو، بې‌ځایه به نه وي؛ ځکه همدغو د نون‌لیګ بدمعاشانو او وحشي عناصرو چې د پنجاب پر خاوره د اهل‌السنت د مظلومو مسلمانانو وینې په کومه بڼه توی او وبهولې، هغه د تاریخ یو ترټولو تور، کرېناک او وحشي باب دی؛ داسې یو باب چې د دغو شیطاني ځېرو پر لمن نښتی او د قیامت تر ورځې به د دوی پر اوږو دروند بار وي.

د کراچۍ خامه آبادیانې، ویجاړې او کنډوالې لا هم د راو انوار په څېر وحشیانو له ظلم او جبره په لړزان دي. هره شپه د ډزو له درزا سره راویښېدونکې میندې به په دې فکر او سوچ سره راپورته کېدې چې هسې نه د دوی تری‌تم ورک شوی زوی یې د کور مخې ته راوړل شوی او په ګولیو سوری سوری ویشتل شوی وي، او کله به یې چې د سهار په خړو سپېدو کې بهر وکتل، نو دا وېره او سوچ به یې پر یقین بدل شو. ورځپاڼه به دې چې کله راواخیسته، د کوم بېره‌ور ځوان په وینو لړلې وجود به پکې انځور شوی و، او تر څنګ به یې لیکلي وو: «فلانی خطرناک ترهګر په پولیس مقابله کې ووژل شو.»

هره ورځ مقابلې، او هغه هم له عدالته بهر په صحرایي محکمو کې. له ۲۰۱۵م تر ۲۰۲۰م کال پورې به هر ماښام د مؤمنو ځوانانو وینې توی او سهار به یې د توی شویو وینو نښې راښکاره شوې. هر سهار به د محکمو مخې ته د مظلومانو ګڼه ګوڼه وه؛ چیغې به یې د ماڼیو تر لوړو دهلیزونو ورسېدې، خو بېرته به بې‌ځوابه راوګرځېدې. خو د انصاف او عدالت به هېڅ درک لا نه لګېد. د وکیل جېب به ډک شو، مظلوم به د میاشتې بلې نېټې او یا هم بلې میاشتې په تمه شو، او په همدې ډول به دا تریخ او کرغېړن ژوند تېرېده.

هر لور ته به د مظلومو پښتنو او بلوڅو ځوانانو په وینو لړلې جنازې پرتې وې. د اسلام په نوم جوړ شوي هېواد، پاکستان کې، د اسلام په نوم غږېدونکو او سیاست کوونکو لپاره دا زړه‌بوږنوونکې او ایمان لړزه‌وونکې صحنې هم کافي نه شوې ترڅو

دوی د غفلت له خوب څخه راویښ او ضمیرونه یې ویښ کړي. کله به د چا د عزت او چاردېوالۍ تقدس او عزت لوټ لوټ کېده او کله به بیا ریاستي بدمعاشانو پر کوم مظلوم مسلمان باندې د خپل زړه بړاس ایستلی و.

ښه مې په یاد دي چې یوې سپین‌سرې بوډۍ مور یواځینی یو زوی یې فقط د دېرش زره روپیو په خاطر شهید کړ.

زموږ یو ګاونډی یې د خپل څوارلس کلن زوی سره یوځای له نیولو او ترې‌تم کولو وروسته، د راو انوار بدمعاشانو په خپلو پټو شخصي زندانونو کې د تورو تمبو شاته تر سختو شکنجو لاندې څو میاشتې په پټه وساتل. بیا هغه ماښام هم راغی، چې همدا بوډا سپین‌ږیری سړی یې د ملیر په سیمه کې له نورو څوارلسو مظلومانو سره یوځای په یوې جعلي پولیس مقابله کې شهید کړای شو.

یو بندي چې د کراچۍ مرکزي زندان ته راوړل شوی و، کیسه کوله: ویل یې چې، کله هغه پنځلس کسان په جعلي مقابله کې ووژل شول، دی هماغه وخت په خپل کور کې و او یاد خبر یې له ورځپاڼې واخیست. څو ورځې وروسته د ده پر کور هم چاپه ولګېده، دی یې له ځانه سره بوت او هماغې شکنجه‌خونې ته یې واچوه، له کومې چې هغه پنځلس بندیان په دې پلمه ایستل شوي وو چې «موږ دوی خوشې کوو».

یاد بندي ویل: کله چې زه شکنجه‌خونې ته دننه کړل شوم، نو بندیانو ماته په کتو ټول راڅخه شاوخوا راټول شول، دوی ټولو د هغو پنځلسو کسانو په اړه پوښتنې کولې چې له همدې ځایه د خوشې کېدو په نوم ایستل شوي وو.

زه نه پوهېدم چې دا څوارلس کلن هلک، چې په ډېر شوق زما ځواب ته منتظر دی، د ده هغه سپین‌ږیری پلار هم په هماغو مظلومانو کې شامل و. ما ورته وویل چې هغوی خو څو ورځې مخکې شهیدان کړل شول. دا خبرې لا پای ته نه وې رسېدلې چې ماشوم په لوړ غږ کریغې او ژړا پیل کړه. بندي ویل، ټول بلاک (شکنجه‌خونه) د غم په ټغر کې ډوبه شوه، ځکه هر چا خپل انجام په خپلو سترګو ولید.

او بیا هغه ورځ هم راورسېده، چې څو ورځې وروسته همدغه څوارلس کلن هلک هم په دې پلمه په وینو ولمبول شو چې ګواکې ځانمرګی بریدګر و.

(پاتې پر ۷ مخ...)

ليکوال: عبدالله «محمد»

د تيارو له غېږې يو روڼ حقيقت

هغوی چې شپه او ورځ يې د اسلام د دفاع او حاکميت لپاره ځانونه وقف کړي، د ژوند ټول خواږه يې پرې اېښي، تر څو امت مسلمه د يو سپين سباؤن په زېري ونازوي، لکه څرنګه چې ټول مسلمانان د يو سپېڅلي اسلامي نظام د راتلو، بقا او پايښت هيله لري، ګورو چې د مجاهدينو يو ځانګړي ټولي د الله جل جلاله په ځانګړي نصرت او د خپلو بې شمېره قربانيو په بدل کې يو بې مثاله اسلامي نظام (د افغانستان اسلامي امارت) رامنځته کړ، له راتلو سره يې د مؤمنانو په زړونو خوښ وګرځول، له خپل ځان سره يې ټول امت ته د آزادۍ په سپېڅلې نعره د قربانۍ زمزمې وغږولې، دا يې وښودله چې د ټول امت سرنوشت يوازې د مجاهدينو په ارادو پورې تړلی دی، که دوی وغواړي نو د الله جل جلاله په ځانګړي نصرت سره به د کفر دا ولاړ غرونه را نسکور کړي.

دا چې کفري زبر ځواکونو دومره پرمختګ کړی چې د ځينو مسلمانانو فکرونه يې په خپلو باطلو عقيدو باطل ګرځولي، داسې چې مسلمانانو ته يې مجاهدين د انسان وژونکو، ترهګرو او نورو نمــونو لاندې ور پېژندلي، نو ښايي چې د جهاد په وړاندې په لومړي سر کې يو تورزن مجاهد خپل مسلمان ورور په خپل مخ کې ولاړ وګوري، دا داسې يو حالت دی چې تاريخ يې مونږ ته بې شمېرې نمونې وړاندې کوي.

کله چې د اسلام مېړني د کفر په خلاف خپل صفونه سموي، باطل نه يوازې دا چې په ظاهري بڼه خپل ټول قدرت د جګړې ميدان ته راښکته کوي، بلکې له روحاني پلوه هم خپل کفري منترونه جاري ساتي، په دې مانا؛ لکه څنګه چې يهود د مسلمانانو سرسخته دښمنان دي، يهود نه غواړي چې يو مسلمان لا ژوندی پاتې شي، نو دا چې مجاهدين يې مقابلې ته را ووځي او د هغوی د له منځه وړلو په اراده يې توره له غلافه وېستلې ووينې، دا حالت خو ورته هېڅ د منلو وړ ندی، له همدې کبله کوښښ کوي، تر څو د خپلو معبودانو (شيطانانو) په مرسته په پټه توګه د مجاهدينو د مقابلې لپاره را وړاندې شي.

ټول پوهېږو، چې په اسلامي نړۍ کې پاکستان د انګليس د يوې نمايندګۍ په توګه خپلې پليتې

اسلام‌ضد چارې او اهداف په سیستماتیک ډول پرمخ وړي، د دې لپاره چې په خپلو ور سپارل شویو دندو کې کفر ته ډېر مخلصین پاتې شي، نو په هره برخه کې یې ځانګړې روزنې لیدلي، رسمي روزنخطونه او ډیپلومونه یې تر لاسه کړي دي.

د پاکستان نظام خو ښه دیني مشران چې له فوځي لحاظه د (جنرالۍ او کرنیلۍ) تر رتبې رسېدلي وي، هغوی د شیطان په بنده‌ګۍ او د خپلو بادارانو (یهودیانو) تر نظارت لاندې د سحر، جادو او منتر تخصصي کړنې ترسره کړې دي، دا چې شکلونه او بڼې یې په اصطلاح ملایانو ته ورته دي، نو د دې مبارک نوم څخه په استفادې د مسلمانانو په منځ کې نفوذ کوي، له یوې خوا په ظاهره ځانونه د دین داعیان معرفي کوي، له بلې خوا په پټه توګه خپلې کرغېړنې شیطاني (د سحر) چارې هم سرته رسوي، کوښښ کوي چې مسلمانان خصوصاً د جهادي فکر لرونکي ځوانان د خپلو لومو ښکار وګرځوي. کله کله د خپلو نورو نفوذي اجنټانو په مرسته ځانونه ډېر مخته ورسوي، هدف یې دا وي تر څو د خپل سحر او جادو په وسیله مجاهدین په خپلو لومو کې را ښکېل کړي، چې په نتیجه کې یې د ډول ډول فتنو سبب ګرځي.

د ټولو مسلمانانو دا عقیده ده، چې سحر او جادو هم شتون لري او هم اثرات کوي، هم یې په قرآنکریم او هم یې د رسول الله ﷺ په مبارکو احادیثو کې په څو څو ځلې یادونه شوې.

نه پوهېږم چې د علماوو په نزد به دا خبره څومره سمه وي، خو ما د یوه صوفي عالم څخه اورېدلي، چې ویل یې:

لکه څرنګه چې مجاهدین په توره له کفر سره جګړه کوي، ویل مونږه هم له کفارو سره د سحر په خلاف مقابله کوو.

علماء کرام پوهېږي چې سحر د ډېرو بدبختیو د راتلو لامل کېدای شي، د بېلګې په ډول: د اختلافاتو د راتلو، د زړه تنګوالي، بې‌اعتمادي، له خپلو بېزاري او همداسې نور

دا چې د الله جل جلاله په نازولي پیغمبر ﷺ باندې سحر شوی و، نو دا په مجاهد هم اثر کولای شي، اړینه ده تر څو یې د وقایې او مخکې له مخکې د دفع کولو سالمې لارې په نظر کې ونیول شي.

کله چې یو مجاهد ته څه ستونزه پېښېږي، نو خامخا یې باید په لومړي سر کې له خپل امیر وروسته له یوه عالم سره شریکه کړي، ځکه مجاهد په ډېر نازک حالت کې قرار لري.

په دوهم قدم کې زما د مطالعې له مخې، ځینې

داسې لارې چارې چې په عملي کولو یې الله تعالی جل جلاله یو مجاهد له هر شر څخه په امان کې ساتي:

- په هر څه کې د الله تعالی رضاء په نظر کې نیول
- د حضور پاک ﷺ پوره تابعداري
- هر څه کې د امیر اطاعت کول
- په دوامداره توګه د الله جل جلاله یاد په ژبه ساتل
- په دوامداره توګه په اوداسه ګرځېدل
- د سهار او ماښام اذکار او وظایف په دومداره توګه تلاوت کول
- د قرآنکریم تلاوت جاري ساتل
- د ځان او اسبابو د نظافت خیال کول
- له ناپېژانده انسانانو سره د روابطو پرې کول؛ او همداسې نور

یادونه:

د تحریک طالبان پاکستان ټول مجاهدین او مسؤلین باید د تحریک د دعوت او ارشاد کمېسیون لخوا چاپ شوي اذکارپاڼې، چې د نوموتي جید عالم، محترم مفتي غفران صاحب لخوا لیکل ترتیب شوي دي، له ځانه سره ولري او هره ورځ یې باید په دومداره توګه تلاوت کړي. همداراز، د تحریک طالبان پاکستان د زعیم محترم شیخ ابو منصور عاصم مفتي نورولي صاحب (حفظه الله) مهم اذکار او سپارښتنې هم باید په پام کې له ځانه سره ولرو او په هرډول مناسبو حالاتو کې پرې د عمل کولو بشپړ کوښښ وکړو.

الله تعالی دې زموږ په شمول ټول مسلمان ځوانان خصوصاً مجاهدین او د مجاهدینو قائدین او مسؤلین له هرډول باطني او ظاهري امراضو او مصیبتونو څخه خوندي وساتي، آمین یارب العالمین.

پاتې: له وحشت او بربریت...

د نون لیګ حکومت خوله اوس د مظلومانو په وینو سره او لړلې ده. د ظلم دا توره شپه به تر هغه وخته پای ته ونه رسېږي، تر څو چې دا کسان د اسلام د لارې د سپېڅلو مجاهدینو په لاس د خپلو کړنو سزا ونه ویني. پرون چې په کرک کې د مظلومو بندیانو وینه تویېدله، قاتلان دې دا ګومان نه کوي چې له حسابه به خلاص شي.

د انتقام اور بل شوی دی، داسې اور چې د هر ظالم د هستۍ فصل به وسوځوي.

وَانْتَظِرُوٓا إِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ (سورة هود، آیت ۱۲۲)

انتظار وکړئ، موږ هم انتظار کوو!

لیکوال: خوشحال سواتي

له تړلو دروازو تر تړلي اقتصاد پورې مورږ پاکستانیانو څه وبایلل؟

له افغانستان سره د ستونزو رامنځته کول او د سرحدي دروازو پرله‌پسې تړل هغه سیاستونه وو چې د پاکستان پر اقتصاد یې د پام وړ منفي اغېزې وکړې. د تورخم او چمن په څېر مهمې سوداګریزې لارې چې باید د ترانزیټ، صادراتو او لوژیستیکي موادو د منظم جریان ضامن وای، د بې‌ثباته پرېکړو له امله ګډوډې شوې او د دې بندیزونو پایله دا شوه، چې د ترانزیټ او عوایدو کمښت، د صادراتو ټکني کېدل، د لوژیستیکي لګښتونو زیاتوالی او د سوداګرو د باور له منځه تګ یې مهم عناصر دي، چې په مجموع کې یې د پاکستان اقتصاد له رکود سره مخ کړ.

یاد وضعیت یوازې پر بهرني تجارت نه، بلکې د کورني اقتصاد پر بنسټیزو سکتورونو یې هم اغېز وکړ، د صادراتو کمښت یې رامنځ ته کړ، د اسعارو پر بازار فشار زیات شو، د وارداتي جنسونو لګښتونه لوړ شول او د تولیدي سکتور مخه یې ډب کړه، په عموم کې د پاکستاني ریاست دا ډول پرېکړو د بازار د عرضې-تقاضا توازن ګډوډ کړ او اقتصادي فعالیتونه پکې له کاره وغورځېدل.

د تش په نوم مارشال منیر او قلیل العقل خواجه آصف د ستراتېژیو پایله دا شوه، چې له ګاونډیو هېوادونو سره د ناسمو اړیکو او شخړو دوام سیمه‌ییز باور کمزوری کړ او پاکستان یې له هغو فرصتونو بې برخې کړ چې د جغرافیایي موقعیت له امله ورته برابر و، دا ناسم مدیریت په عملي ډول د کورني اقتصاد د کمزورۍ یو مهم عامل وګرځېد.

له دې بهرني بُعد سره هم‌مهاله، د پاکستان اقتصادي بحران د یوې بلې نه جبرانېدونکې حادثې ښکار وګرځېد چې په دې لړ کې د لوړو مالیاتو اخیستل د تولیدي سکتور پر توان منفي اغېز وکړ او د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د بقا وړتیا یې کمه کړه، همداراز اداري فساد او رشوت د اقتصادي نظام شفافیت زیانمن کړ، د پانګونې باور یې له منځه یووړ او د منابعو د ناسمو تخصیصونو لامل شو. کله چې قانوني چوکاټ کمزوری شي، غلا فساد او غیرقانوني اعمال رامنځته ته شي او د پالیسیو تطبیق سلیقوي شي؛ اقتصادي فعالیتونه په طبیعي ډول ټکني کېږي، خو د پاکستاني ریاست ناسمو تصمیمونو یواځې بحرنی اقتصاد نه کړ

زیانمن، بلکې په کور دننه یې د بې دفاع ملت ټوله شتمني او کورنی تولید د خضلان تر کچې ورساوو.

په دې وروستیو کې د پاکستان او افغانستان ترمنځ د تړلو دروازو له امله د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګري ټکنی شوه، چې زموږ هېواد ته یې د پام وړ اقتصادي زیانونه رامنځته کړل، د سوداګرۍ ګډې خونې د راپورونو له مخې له افغانستان سره د سوداګریزو لارو د تړل کېدو له امله د پاکستان سوداګرۍ ته شاوخوا ۴.۵ میلیاردو امریکایي ډالرو زیات اقتصادي تاوان رسېدلی دی، ځکه سوداګریز جریان ټکنی شوی او د افغان بازار له لاسه تللی دی.

د همدې داخلي کمزوریو، اداري فساد او ناسم مدیریت په پایله کې پاکستان د نړیوالو پورونو، په ځانګړي ډول د IMF، تر درانه بار لاندې راغلی دی، ځکه د پور قسطونه د پراختیایي بودیجې لویه برخه خوري او اقتصاد د ودې پرځای د بقا په حالت کې ساتي، په ټولیزه توګه، له افغانستان سره د شخړو دوام او د کورني فساد پراخوالی او همداراز د تش په نوم واکدارانو د ناسمو پرېکړو پایله دا شوه، چې د هېواد اقتصاد یې له فعاله حرکت څخه د رکود او سکوت پر لور سوق کړی دی.

پاتې: هغه جناح چې تر تحقیق...

چې هغه مهال د اسماعیلي شیعه ټولنې لپاره قانوني اصطلاح وه.

د لندن په ارشیفونو کې د جناح شخصي قانوني اسناد هم دا څرګندوي چې هغه د هند د قانوني استازیتوب پر مهال د Khoja Mahomedan په نوم ثبت و. دا معلومات د بریتانوي ارشیفونو، د پاکستان ملي ارشیف او د جناح د ژوندلیک لیکونکو لکه ستانلي وولپرټ، هېکټر بولیتو او عائشه جلال په اثارو کې په مستند ډول موندل کېږي.

ستانلي وولپرټ لیکي:

"Jinnah was born into a Khoja Ismaili family in Karachi." (Jinnah of Pakistan – Oxford University Press)

یو بل لوډیځ تاریخپوه هېکټر بولیتو وایي:

"His family belonged to the Khoja community." (Jinnah: Creator of Pakistan)

او عائشه جلال لیکي:

"Jinnah's family background was Khoja."

لیکوال: نورالهداء خلیل

غزې ته د پوځ استول؛ آیا دا د کرایي پوځ اصلي څېره نه ده؟

غزه د معاصر نړیوال کفري ائتلاف پر وړاندې د مقاومت، قرباني او ایثار ژوندی روایت دی. غزه د مغرور او ظالم صهیونیزم د ګونډو کولو ډګر دی. غزه د شیطاني استخباراتي شبکو د شنډولو قلعه ده. غزه د هغو تش په نوم اسلامي حاکمانو د حقیقت څرګند کتاب دی، چې خپل ایمانونه یې پلورلي، له کلونو راهیسې د مسلمانانو پر خاورو واکمن پاتې دي، او د غرب د ګټو لپاره د خپلو ولسونو وینې تویوي.

غزه د بشردوستۍ نړۍ پر تندي یو تور داغ دی؛ هغې نړۍ چې د بشري حقونو تر شعار لاندې یې تل د مسلمانانو شتمنۍ لوټلې دي. غزه د ایمان او عقیدې داسې ټینګه مورچه ده چې نړۍ ته دا حقیقت ورپه ګوته کوي چې نه ستر پوځونه او نه هم عصري وسلې، کله هم د ایمان او عقیدې پر وړاندې بریا موندلی شي.

د فلسطین قضیه د شلمې پېړۍ له نیمایي راهیسې د صلیبي او صهیوني یرغلګرو د یوې اوږدې، ژورې او خونړۍ شخړې محور ګرځېدلې ده. دا هغه قضیه ده چې پکې د زور، اشغال او دوه‌ګوني معیارونه په بشپړه بڼه راڅرګند شوي دي. له لسیزو راهیسې د فلسطیني ولس وژل، بندیانول او ځپل دوام لري، او یهودي رژیم د نړیوال کفر په ملاتړ د مسلمانانو پر وړاندې له هر ډول وحشت او ظلم څخه کار اخیستی دی او دا لړۍ لا هم روانه ده.

غزه له څو لسیزو راهیسې د یهودي اشغالګر رژیم تر سختې محاصرې لاندې وه. د همدې محاصرې په جریان کې اشغالګر رژیم وخت په وخت د غزې دننه خونړي جنایتونه ترسره کړل. بالاخره، د همدې ولس له منځه یو مقاومت راپورته شو؛ هغه مقاومت چې د شیخ احمد یاسین رحمه الله د دعوتي او فکري هڅو زېږنده و. دا مقاومت د وخت په تېرېدو سره په یو منظم ځواک بدل شو، چې د اشغالګر رژیم پر وړاندې یې پرله‌پسې دریځ ونیوه.

د همدې مقاومت مجاهدینو د اکتوبر په اوومه د انتقام‌اخستنې عملیات ترسره کړل، او نړۍ ته یې د صهیونیزم د ګونډو کېدو یوه لویه ننداره وښوده. د دې په غبرګون کې اشغالګر رژیم د انتقامي بریدونو لړۍ پیل کړه، او د نسل‌وژنې په موخه یې

آن تر کیمیاوي وسلو پورې لاس وغځاوه.

له یوه کال راهیسې د عامو فلسطینیانو پر وړاندې بې‌ساري وژنې روانې دي. د دغو جنایتونو په پایله کې اسرائیل په نړیواله او سیمه‌ییزه کچه د انزوا له حالت سره مخ شو. د همدې انزوا د ماتولو لپاره امریکا هڅه کوي چې د یوې نړیوالې اجماع تر نامه لاندې غزې ته یو ګډ ائتلافي پوځ واستوي. دا پوځ به د حماس د وسلو د تسلیمولو په پلمه غزه یو ځل بیا په نوې بڼه اشغال کړي. خو د حماس مجاهدینو د دې پلان پر وړاندې کلک دریځ نیولی او اعلان یې کړی چې هېڅ‌ا ته به هم خپلې وسلې تسلیم نه کړي.

په دې لړ کې د پاکستان اجیر طاغوتي ریاست هم غواړي د همدې ائتلاف برخه وګرځي، او د اسرائیلي اهدافو د پوره کولو لپاره غزې ته خپل پوځیان واستوي. د راپورونو له مخې، پاکستان به د دې ائتلاف په چوکاټ کې ۳۷۰۰ پوځیان ولېږي. د سپینې ماڼۍ ویاند هم د دې خبرې پخلی کړی او ویلي یې دي چې دا د پاکستاني اړخ خپله غوښتنه ده.

دلته یوه جدي پوښتنه راولاړېږي چې آیا دا د کرایي پوځ ریښتینې څېره نه ده؟

د سیاسي علومو له نظره، کرایي پوځ هغه پوځې ځواک ته ویل کېږي چې:

- د خپل ولس د دفاع پر ځای د بهرني قدرت ستراتیژیکو موخو ته خدمت کوي؛
- د مالي، سیاسي یا دیپلوماتیک امتیاز په بدل کې پوځي ماموریتونه مني؛
- د ماموریت مشروعیت د اسلام او ولس له ارادې نه، بلکې د تړونونو او پروژو له لارې ترلاسه کوي.

هغه ماموریت چې نن د مالي ګټو په بدل کې غزې ته د پوځ د لېږلو لپاره طرحه کېږي، به د پاکستان د مسلمان ولس او د ټول امت له سخت غبرګون سره مخ شي. دا به بالاخره د ناپاک پوځ د اصلي څېرې د لا روښانه کېدو لامل وګرځي؛ هغه پوځ چې له کلونو راهیسې د غرب لپاره د مسلمانانو د وینې او ناموس د خرڅلاو پروژې مخ ته وړې دي.

لیکوال: روح‌الله مجاهد

هغه جناح چې تر تحقیق او پوښتنې لاندې نه راځي!

د پاکستان په تاریخ کې تر ټولو ډېر سانسور شوی نوم د محمد علي جناح دی؛ داسې نوم چې په اړه یې نه څېړنې ته اجازه شته، نه پوښتنه روا ګڼل کېږي او نه هم اختلاف زغمل کېږي. که څوک د جناح پر شخصیت، فکري شالید یا تاریخي رول تحقیق وکړي، نو د قانون له مخې مجرم بلل کېږي. دا پوښتنه په خپله راولاړېږي چې پاکستان ولې نه غواړي خپل ولس د جناح له حقیقي څېرې خبر شي؟

جناح داسې نوم ګرځېدلی چې نه لوستل کېږي، بلکې تلاوت کېږي؛ نه پرې تحقیق شته، نه پوښتنه، او نه هم انتقادي نظر منل کېږي. حال دا چې که تاریخ له تحقیقه وتښتول شي، نو حقیقت له منځه ځي او یوازې تبلیغ پاتې کېږي.

له هر څه وړاندې اړینه ده چې د خوجا ټولنې تاریخي او مذهبي شالید وپېژنو، او د هغوی د آغاخاني / اسماعیلي شبکې سره اړیکه وڅېړو. د همدې پېژندنې له لارې کېدای شي د پاکستان د تش په نوم بنسټ‌اېښودونکي محمد علي جناح د هویت، فکري مسیر او مذهبي تړاو په اړه روښانه انځور تر لاسه کړو.

خوجا ټولنه د هند د لوېدیځو سیمو لکه ګجرات، کچ او سند د لوهانا (پخوانی هندو سوداګریزې ډلې) له نسل څخه راټوکېدلې ده. دا ټولنه د څوارلسمې او پنځلسمې پېړۍ په جریان کې د پیر صدرالدین د تبلیغي هڅو له لارې د نزاري اسماعیلي مذهب لور ته واوښته. دا تاریخي بدلون او د خوجا ټولنې ځانګړی مذهبي او کلتوري هویت د معاصرو علمي څېړنو له مخې مستند شوی دی.

د خوجا ټولنې بنسټ د پېړیو راهیسې د هند په لوېدیځو سیمو کې ثبت شوی، او د اسماعیلي امامت سره یې اړیکې د پیر صدرالدین او د هغه د پیروانو له لارې ټینګې شوې. له همدې امله خوجا ټولنه په دودیز ډول د نزاري اسماعیلیانو په نوم پېژندل کېږي، او دا تړاو وروسته د آغا خان له امامت سره لا پسې ژور شو، په ځانګړي ډول د نولسمې او شلمې پېړۍ په بهیر کې.

پیر صدرالدین د څوارلسمې پېړۍ یو نزاري اسماعیلي داعي و، چې د هند په بېلابېلو سیمو،

په ځانګړي ډول په سند او ګجرات کې یې د Satpanth تر عنوان لاندې تبلیغ کاوه. هغه د خوجا ټولنې لپاره ځانګړي مذهبي اشعار، دعاوې او سازماني جوړښتونه رامنځته کړل، او د جماعتخانو بنسټ یې کېښود. د هغه د فعالیت له مهمو مرکزونو څخه یو اُچ شریف و، چې تر ننه یې درګاه او مذهبي نښې پاتې دي.

د همدغو تبلیغي هڅو له لارې خوجا ټولنه ورو ورو د نزاري اسماعیلي هویت څښتنه شوه، او دا بدلون د معتبرو علمي بنسټونو او څېړنیزو مرکزونو له لوري مستند شوی دی.

آغا خان، په ځانګړي ډول سر سلطان محمد شاه آغا خان درېیم، د نزاري اسماعیلي امام په توګه د خوجا ټولنې مذهبي او ټولنیز مشرتوب پر غاړه درلود. د هغه په زمانه کې خوجا ټولنه په بشپړه توګه د آغاخاني امامت تر سیوري لاندې تنظیم شوه.

د ستانلي وولپرټ، هېکټر بولیتو او عائشه جلال په څېر معتبرو لوېدیځو تاریخپوهانو په خپلو اثارو کې دا خبره په څرګند ډول لیکلې ده چې د جناح کورنۍ د خوجا ټولنې سره تړاو درلود. دا لیکنې د لومړنیو تاریخي اسنادو او ارشیفي سرچینو پر بنسټ ولاړې دي.

د جناح کورنۍ اصلاً د ګجرات د کټیاواړ د پنیلي سیمې وه، چې وروسته کراچۍ ته کډه شوه. دا هغه سیمې دي چې د خوجا اسماعیلي ټولنې پکې پیاوړی حضور درلود. د جغرافیایي او نسبي شواهدو له مخې، د جناح کورنۍ د خوجا نزاري اسماعیلي شبکې سره تړلې بلل کېږي.

په ګڼو ثانوي او ټولنیزو سرچینو کې دا هم یادونه شوې چې د آغا خان له لوري د جناح د کورنۍ د خوجا شالید یادونه شوې ده. ځینې منابع داسې څرګندونې رانقلوي چې:

"Jinnah belonged to a distinguished Khoja Ismaili family of Karachi"

که څه هم د دې جملو کره ارشیفي اسناد ځانګړو اسماعیلي ارشیفونو کې موندل کېږي، خو د جناح د کورنۍ خوجا هویت د تاریخي بحث یوه منل شوې برخه ده.

پیدایښت:

محمد علي جناح په ۱۸۷۶م کال کې په کراچۍ کې، د خوجا ټولنې په یوه کورنۍ کې وزېږېد. د هغه پلار پونجا جناح او مور یې دواړه د همدې ټولنې غړي وو. د برتانوي دورې رسمي اسناد ښيي چې د جناح د کورنۍ مذهبي پېژندنه د Khoja Mahomedan په نوم ثبت شوې وه،

(پاتې پر ۹ مخ...)

ليکوال: عمر منعَم آفريدی

تورونه او تر شا يې واقعيتونه؛ آيا د جهاد دومره زياته سختي زغمل د بهرني ملاتړ نښه ده؟

څوک چې دا خبره کوي چې ګويا تحريک طالبان پاکستان يا په بله اصطلاح ټيټيپي والا د هندوستان خلک دي، د هغوی په اشارو کار کوي او د هغوی لپاره د پاکستاني پوځ سره لاس او ګريوان دي، نو دا هسې يوه بې بنسټه او بې دليله دعوا ده.

دا چې د تحريک طالبان پاکستان رامنځته کېدل د کومو اهدافو لپاره و، تګلوری يې څه دی، منهج يې څه بيانوي؛ دا او دې ته ورته نور بحثونه او پوښتنې تر يو مستند تاريخ پورې تړلي سلسله ده، چې د معاصرو لوستونکو، کتونکو او اورېدونکو په وړاندې په واضح توګه عيان او بيان دي.

ټول پوهېږو چې دا لوی تحريک د پوځ د ظلم په خلاف يو مشروع د ټولنيزو جوړښتونو څخه رامنځته شوی جهادي غورځنګ دی، څوک چې دا لوی جهادي يون د هندوستان د ګټو مدافعين ګڼي، هغوی ته پکار ده چې خپل تاريخي لوست ته بيا کتنه وکړي، ځکه هغوی په لا شعوري ډول د هغو خلکو فکري غلامان دي څوک چې په هر وخت او هر دور کې اسلامي جوړښتونه د نورو په لاس رامنځته شوي نيابتي ټولي ګڼي، په اهل حقو هميش د باطل لخوا تورونه او تهمتونه تړل کېږي، لکه د حضرت موسی و علی نبينا عليه والسلام په اړه به فرعونيانو ويل چې:

ژباړه: دا رسول چې تاسو ته رالېږل شوی، لېونی دی. (سورة الشعراء، ٢٧)

يا يې هم دواړه د ساحرانو په نومونو يادول.

ژباړه: هغوی وويل: دا دواړه (موسی او هارون) جادوګر دي. (سورة طه، ٦٣)

د حضرت محمد ﷺ په شان کې ويل شوي تورونه:

وَقَالُوا يَا أَيُّهَا الَّذِي نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ إِنَّكَ لَمَجْنُونٌ

(سورة الحجر، ٦)

ترجمه: هغوی وويل: اې هغه چا ته چې ذکر پرې نازل شوی، ته لېونی يې.

همداراز په سورة الطور، ٢٨ نمبر آيت کې داسې راغلي:

فَمَا أَنتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَلَا مَجْنُونٍ

ژباړه: ته د خپل رب په فضل نه کاهن يې او نه

لېوني.

که پورته واقیعتونو ته ځیر شو، وبه وینو چې نن ورځ هم د فرعون ځایناستي شتون لري چې د نني عصر سپېڅلي او په حق مئین لارویان په ډول ډول نومونو یادوي.

لله الحمد تحریک طالبان پاکستان هغه د یوه پراخ جهادي یون په توګه د کونډو، یتیمانو او د جامعه حفصه د غښتلیو او مېړنیو حماسي مېرمنو د قربانیو په پایله کې رامنځته شوی چې تر شا یې د کړېدلي، زورېدلي مظلوم امت دعاګانې دي، د وخت د مظلومو خویندو د «وامعتصما» نعرو ته یې لبیک ویلی او په خپلو دې وعدو کې ریښتوني دي، نو څنګه به د یوه داسې هدف پالونکي د هندوانو د اهدافو تعقیبوونکي وي، دا تعبیر د هغو اذهانو کار دی چې د کتاب له ټکي سره هم نه وي آشنا، که فرض کړو چې دا خلک د هندوستان په لمسون فعالیت کوي نو بیا خپل کلي کور پرېښودل، له خپلوانو جدایي او په کلونو د هجران سرګردانه ژوند زغمل، په غرونو او درو کې له لوږو تندو سره مخ کېدل آن تر دې چې خپلې ګل ځوانۍ بې د اجل په غېږ کې را ړنګې کړي دي چې په دې ډول سره د خپل رب دیدار ته ستنېږي.

که یو څوک دا پوښتنه را پورته کوي، چې پورتنۍ یادې شوې ستونزې خو هر څوک زغملی شي د بېلګې په توګه که یو څوک د نفقې پیدا کولو لپاره نورو هیوادونو ته سفر کوي، نو کېدای شي ډېرې سختۍ وزغمي، مګر توپیر دا ده چې مجاهدین د خپل شهادت لپاره شېبې شماري، په ځانونو پورې بارود تړي، خو د نفقې پسې وتلي ځوانان د ژوند د هوساینې لپاره خواري کوي، مګر مجاهد ټولې خوارۍ د شهادت لپاره ترسره کوي، ځکه نو دلته مادیات بې ارزښته کېږي.

له پورته توضیحاتو په ډاګه معلومېږي چې ځان ځاروونکي مجاهدین تر ټولو هغو توپیر لري، ځکه د دې ځان ځارونې تر شا مادیات نه، بلکې د الله جل جلاله د سپېڅلي محبت خواږه پراته دي.

لکه په دې اړه چې صوفیان کرام وایي:

الموت جسر یوصل الحبیب الی الحبیب

مرګ یو پل دی چې یو مئین پرې د بل مئین سره ولېږي.

لنډه دا چې کوم خلک دا پروپیګنډا کوي چې تحریک طالبان پاکستان د هندوستان روزل شوي خلک دي یا د هغوی په لمسون فعالیت کوي؛ دا خبره له عقل، پوهې او منطق سره په ټکر کې ده، ځکه د تحریک طالبان پاکستان منهج او تګلوری

تر لمر هم روښانه دی.

تحریک طالبان پاکستان د اهل سنت والجماعة د عقیدې لرونکو د یوه متشرع امیر تر قیادت لاندې په شریعت، هجرت او جهاد باندې بیعت کړی دی.

د الله جل جلاله په نصرت به ډېر ژر د پاکستان په خاوره د اسلام د سپېڅلي توغ په رپېدا به د دې خاورې اوسیدونکي د یوه سپین محمدی شریعت لیدونکي وي، ان شاءالله تعالی...

په پای کې په ټولو هغو جهادي ډلو چې د پاکستان د فوځي رژیم خلاف عملاً په جهاد لګیا دي، غړ کوم، چې لاس او ګوزار مو یو کړئ، مشوره او فیصله مو یوه کړئ، د یوه صف او یوه امیر په امر باندې خپله جهادي مبارزه روانه کړئ ترڅو زمونږ او ستاسې ګډه جهادي مبارزه لا پیاوړې او مثمره شي. او دښمن ته یو غاښ ماتوونکی ځواب ورکړو ترڅو وکولای شو د اسلام په خلاف جوړ شوي شوم پلانونه او دسیسې رانسکورې کړو.

وما علینا الا البلاغ

له طالبانو څخه زما مراد یوازې د افغانستان طالبان نه دي، بلکې د پاکستان طالبان هم دي. که چېرې د افغانستان طالبان دغه کار (د جهاد له لارې د اسلامي نظام قیام) کولای شي، نو د پاکستان طالبان یې ولې ونشي کولای؟ إن شاء الله تعالی، هغوی به هم دا کار ضرور ترسره کوي. او بیا به داسې نه وي چې د دې ځای طالبان به بېل او د هغه ځای طالبان به بېل وي؛ بلکې ټول به په یوځای په ګډه په ټوله اسلامي نړۍ د اسلامي حکومت د نفاذ او قیام لپاره هڅې کوي. ځکه چې د اسلامي امارت اصلیت په ټوله نړۍ کې یو شان دی، د ټولو مجاهدینو به یو "محمدي لښکر" وي، او په ټوله نړۍ کې به د اسلامي امارت یو مرکز او یو امیرالمؤمنین وي. (خطبات الرشید، مخ: ۱۵۱)

مفتي رشید احمد لدهیانوي رحمه‌الله

ليکوال: بدرالدين منصور

د مطالعې نشتوالی؛ د فرد، فکر او ټولنې ورو ورو زوال

مطالعه د انساني فکر د ودې، د عقل د روزنې او د شخصيت د پخېدو تر ټولو بنسټيزه وسيله ده. انسان د مطالعې له لارې له خپلې محدودې تجربې وځي او د تاريخ، علم، دين، فلسفې او انساني تجربو له پراخ سمندر سره نښلېږي. هغه ټولنې چې لوست، فکر او څېړنه پکې ژوندۍ وي، تل د پرمختګ، توازن او شعور پر لور رواني وي؛ او برعکس، چېرته چې مطالعه پرېښودل شي، هلته د زوال، ګډوډۍ او فکري غلامۍ دروازې پرانيستل کېږي.

۱. فکري او عقلي زيانونه:

د مطالعې نشتوالی تر ټولو لومړی د انسان پر عقل او فکر اغېز کوي. مطالعه ذهن روزي، پوښتنې پيدا کوي، استدلال پياوړی کوي او د حق او باطل ترمنځ د توپير وړتيا لوړوي. کله چې انسان له لوستلو لرې شي، فکر يې سطحي کېږي، استدلال کمزوری کېږي او د عقل پر ځای احساسات او تعصب پرې واکمنېږي. داسې انسان د ژورو پوښتنو ځواب نه شي موندلی، د مغالطو ښکار کېږي او هره اورېدلې خبره د حقيقت په توګه مني.

۲. د ديني شعور کمزوري کېدل:

اسلام د علم او مطالعې دين دی. د ”اقرأ“ امر دا ښکاره کوي چې ديني پوهاوی د لوست او تدبر پرته بشپړ کېدای نه شي. د مطالعې پرېښودل انسان له قرآن، حديث، سيرت او فقهي بصيرت څخه لرې کوي. په پايله کې دين يو محدود، احساساتي او کله ناکله تحريف شوی تصور ګرځي. داسې فرد يا خو په افراط اخته کېږي او يا تفريط ته لوېږي، او د غلطو تعبيرونو او بې‌بنسټه فتوو ښکار کېږي.

۳. شخصيتي کمزوري او رواني ستونزې:

مطالعه يوازې معلومات نه زياتوي، بلکې شخصيت هم جوړوي. لوست انسان ته زغم، حوصله، وقار او فکري توازن وربخښي. د مطالعې نشتوالی شخصيت ناپخې کوي؛ انسان ژر غوسه کېږي، د مخالفت زغم نه لري، ځان‌باور له لاسه ورکوي او په بحث او مکالمه کې له بدې ژبې کار اخلي. دا ډول شخصيتونه اکثره يا له کبر او غرور ډک وي او يا د کمترۍ له احساسه ځورېږي.

۴. ټولنيز او تمدني اغېز:

هغه ټولنه چې مطالعه پکې عامه نه وي، هلته افواهات، اوازې او ناسم روايتونه ژر خپرېږي. خلک د دليل پر ځای د احساس پر بنسټ دريځ نيسي، اصلاح ته چمتو نه وي او د علمي نقد پر ځای شخصي حملې کوي. دا حالت ټولنه له دننه کمزورې کوي، تعليمي زوال رامنځته کوي او د تمــدني پرمختګ مخه نيسي. همدارنګه، د مطالعې نشتوالی د ماشومانو ناسمې روزنې، د استاد او شاګرد د اړيکو کمزورۍ او د علم‌دښمن فکر د پياوړتيا لامل ګرځي.

۵. فکري غلامي او تقليد:

مطالعه انسان ازادوي، خو د مطالعې نشتوالی انسان غلاموي. هغه څوک چې نه لولي، د نورو افکار بې‌له پوښتنې مني. دا ډول انسان خپل فکر نه لري، بلکې د چاپېريال، رسنيو او واکمنو نظرياتو تر اغېز لاندې ژوند کوي. فکري غلامي تر ټولو خطرناکه غلامي ده، ځکه انسان ته دا احساس هم نه پرېږدي چې هغه غلام دی.

٦. د وخت ضايع کېدل او بې‌هدفه ژوند:

مطالعه انسان ته هدف، سمت او معنا وربخښي. بې‌مطالعې ژوند اکثره بې‌هدفه وي. وخت په بې‌ځايه خبرو، بې‌ثمره مشغولو او تفريحاتو کې ضايع کېږي. داسې انسان نه يوازې خپله ګټه نه شي کولای، بلکې د ټولنې لپاره هم بار ګرځي.

خلاصه دا چې مطالعه يو اختياري شوق نه، بلکې فکري، ديني او ټولنيزه اړتيا ده. د مطالعې پرېښودل د عقل کمزورۍ، د ديني شعور زوال، د شخصيت ناپخوالي او د ټولنې شاتګ ته لاره هواروي. که موږ غواړو چې فرد مو باخبره، ټولنه مو متوازنه او امت مو بيدار وي، نو بايد د مطالعې فرهنګ بيا راژوندی کړو. کتاب بايد زموږ ملګری وي، لوست بايد زموږ عادت وي او فکر بايد زموږ هويت وي.

مطالعه انسان ته انسانيت ور زده کوي؛ او بې مطالعې انسان، ورو ورو له خپل انساني مقامه لوېږي.

پاتې: ولې د تحريک طالبان پاکستان...

که رښتيا هم د دې تجاوز د مخنيوي او پای ته رسولو اراده شته، نو تحريک طالبان د افغانستان د تجربې په څېر، د امن، شريعت او وقار پر لور د تګ يوه هيله‌منه او مشروع حل لاره بلل کېږي. که ولس يې ملاتړ وکړي، دا اسلامي او جهادي مبارزه کولای شي پاکستان د بلواکۍ او ظلم له ټاپو څخه د خلاصون پر لور بوځي.

ليکوال: مولانا خالد قريشي

ژباړن: سيف‌اللّه عمار

تحريک طالبان پاکستان له ۲۰۱۸ تر ۲۰۲۵م کال؛ د اوه کلنې جهادي مبارزې، لاسته‌راوړنو او تنظيمي پرمختګونو لنډ تاريخي جاج

داچې د پاکستان روان سيپځلی او مقدس جهاد له يوې خوا پخپله يو له ترټولو سخت او ستونزمن عبادت دی؛ داسې عبادت چې پر وړاندې يې له يوې خوا د دنياپرستو درباري ملايانو د فاسدو تشريحاتو، د علماء سوء د ديني تحريفاتو، د دجالي رسنيو د پروپاګند او همداراز له ځمکنيو واقعيتونو، ننګوونو او پېښو څخه د بې‌خبرۍ او ناسم پوهاوي دوړې او اغېزې پرتې دي، له بلې خوا د همدې جهاد لپاره رامنځته شوی جهادي تحريک، تحريک طالبان پاکستان، پخپله هم د تاريخ په پاڼو او د خپل جهادي سفر په اوږدو کې له بېلابېلو لوړو ژورو او ستونزو سره مخ پاتې شوی دی.

په معاصر دور کې شايي تحريک طالبان پاکستان هغه يوازينی جهادي تنظيم او خوځښت وي چې مرکزي مشرتابه يې په پرله‌پسې توګه د کفر او ظلم د نړيوال نظام او علمبردار د مرکزي څېرڅواک، يعنې د ستر طاغوت امريکا، هدف پاتې شوی وي. هوکې؛ يوازې امېران نه، بلکې مرستيال امېران او د مشرتابه کچې نور ډېرې غړي او مسؤلين يې هم د همدې شيطاني ناسور له لورې په شهادت رسېدلي دي. دلته دا حقيقت هم نه شي ردېدای چې دغو پېښو په خپل خپل وخت کې پر تحريک ژور اغېز پرې اېښی.

سربېره پردې، د تحريک دننه پخواني اختلافات او ګډوډۍ هم د سختو ستونزو او کړاوونو سبب شوې وې، چې د الله تعالی په فضل اوس تر ډېره بريده هوارې شوې دي. په لنډه توګه بايد ووايم چې دا تحريک له سترو ازموينو او ډول ډول سختو امتحانونو او مشکلاتو څخه راتېر شوی دی.

د دې ټول تاريخ بشپړ بيان شايي ډېر زيات اوږد شي، له همدې امله به موږ په دې ليکنه کې يوازې د يو محدود وخت پر پړاو تمرکز وکړو. که د وخت او حالاتو له مخې د تحريک طالبان پاکستان د جهادي سفر پړاوونه وټاکل شي، نو څلور دورې تر سترګو کېږي:

۱. لومړۍ دوره: له ۲۰۰۴ تر ۲۰۰۷م

(هغه مهال چې تحريک د جوړېدو او تشکيلېدو په پړاو کې و)

۲. دویمه دوره: له ۲۰۰۸ تر ۲۰۱۴م

(هغه مهال چې تحریک د بېلابېلو کړیو او ضلعو د یووالي (حلقو) په بڼه موجود و)

۳. درېیمه دوره: له ۲۰۱۴ تر ۲۰۱۸م

(هغه مهال چې تحریک له سختو پوځي عملیاتو او داخلي اختلافاتو سره مخ و)

۴. څلورمه دوره: له ۲۰۱۸ تر ۲۰۲۵م

(هغه مهال چې تحریک په واقعي معنا بیا ځلې متحد او منظم شو او له عسکري او بشري پلوه د ودې بهیر ته داخل شو)

د دغو څلورو دورو په اړه په رسنیو، ټولنیزو شبکو او ورځپاڼو کې ډېر بحث او لیکل شوي او لا هم روان دي. دلته به موږ ډېر لېرې ماضي ته له کتو پرته، د ۲۰۱۸م نه تر ۲۰۲۵م کال پورې پر وخت یو ځغلنده نظر واچوو او دا به وڅېړو چې په تحریک کې کوم بدلونونه راغلي او په کومو برخو کې لا هم د لا زیات کار او هڅې اړتیا لیدل کېږي.

۱ـ د صف وحدت او یووالی:

کله چې د تحریک طالبان پاکستان د مشرتابه او امارت مسئولیت اوسني زعیم، شیخ ابو منصور عاصم مفتي نورولي محسود حفظه‌الله ته وسپارل شو، نو د هغه له لوري تر ټولو لومړی د تحریک د رهبري شورا جوړښت ته نوې بڼه، عملي ارزښت او اغېزمنتیا ورکړل شوه؛ داسې بدلون چې له دې وړاندې په دې کچه نه تر سترګو کېده.

ورپسې، د یو لړ محدودو تنظیمي بدلونونو تر عملي کېدو وروسته، د هرې ضلعې (ولسوالۍ) مخور، سرلاري او مسئول اشخاص راوغوښتل شول او یو پراخه مشورتي غونډه جوړه شوه، چې نږدې درې اوونۍ یې دوام وکړ. د دې اوږدې مشورتي غونډې اساسي موخه دا وه چې د پاکستان په جهادي ډګر کې فعال ټول تنظیمونه، ډلې او افراد د یو واحد امیر، یو بیرغ او یوې واحدې قوماندې تر چتر لاندې راټول شي، څو تنظیمي یووالی او ګډ جهت تأمین شي.

دې غونډې ته دومره لوړ ارزښت او اهمیت ورکړل شوی و، چې د امریکایي ډرون الوتکو د پرله‌پسې ټیټو پروازونو او هر وخت د احتمالي برید له جدي ګواښ سره سره هم غونډه روانه وساتل شوه، او په هېڅ صورت د اجنډا پر بحث کې ځنډ او وقفه رانه وستل شوه. که په غونډه کې چا د کومې ډلې، ګروپ یا فرد د تحریک له غړیتوب سره کوم اعتراض یا شکایت درلود، نو هغه هم په همدې دلیل رد کېده چې په هر حالت کې یووالی حتمي، اړین او له هر بل مصلحت څخه لوړ دی.

د دې غونډې له پای ته رسېدو څو ورځې وروسته (په داسې حال کې چې زه پخپله هغه مهال لا د

تحریک غړی نه وم) له یوه ملګري سره مخ شوم، چې د بنو ولسوالۍ اوسېدونکی و. هغه هم راته دا خبره په ډاګه تأیید کړه چې تحریک دا پرېکړه کړې ده، او زموږ سیمې ته هم یو پلاوی راغلی و، چې له ځان سره یې همدا پیغام، بلنه او دعوت راوړی و، چې په هر صورت باید سره یو شو او تر یو واحد نظام او ګډ چتر لاندې راټول شو.

په همدې موده کې له «القاعده برصغیر» سره تړلي دوه مهم ګروپونه د تحریک برخه وګرځېدل؛ یو د شهید استاد احمد فاروق رحمه‌الله ګروپ چې مشري یې چودري منیب‌الرحمن جټ کوله، او بل د شهید استاد امجد فاروقي ګروپ چې د شهید شاني رحمه‌الله تر قیادت لاندې یې فعالیت کاوه. یادو دواړو ګروپونو له جنوبي پنجاب ولایت سره تړاو درلود. همدارنګه د «حکیم‌الله محسود کاروان» په نوم ډلې، چې مشري یې مخلص یار محسود کوله، د تحریک طالبان پاکستان د امیر پر لاس بیعت وکړ. دا ټول شمولیتونه او بیعتونه خپل شالیدونه او کیسې له ځانه سره لري.

په همدې مهال، کله چې د تحریک مشرتابه دا پرېکړه کړې وه چې باید «جماعت‌الاحرار» ته هم یو پلاوی واستول شي، د مومندو ایجنسۍ سره تړاو لرونکی اکرام‌الله ترابي له زندان څخه خوشې شو. نوموړي له خوشې کېدو وروسته سمدستي پر همدې فکري او تنظیمي ذهنیت کار پیل کړ، چې د مومندو ایجنسۍ ټول مجاهدین (چې د جماعت‌الاحرار د مرکزیت او اکثریت مهمه برخه یې تشکیلوله) باید په منظم او ګډ ډول د تحریک برخه وګرځي. په همدې لړ کې، د نورو مسئولینو ترڅنګ، له عمر خالد خراساني رحمه‌الله سره هم مستقیمې خبرې اترې وشوې.

وروسته تر دې، نوموړي د ملاکنډ ډویژن له مسئولینو سره اړیکه ونیوله. په همدې لړ کې، غزوان غازي صاحب د هغوی لپاره یوه غونډه راوبلله. په دې غونډه کې د هغه وخت مرستیال امیر شهید مفتي مزاحم رحمه‌الله، د ملاکنډ ډویژن امیر ډاکټر حمود صاحب او غزوان غازي صاحب په څرګندو ټکو ډاډ ورکړ، چې دوی چمتو دي ترڅو ټول پخواني اختلافات شا ته وغورځوي او د یووالي لپاره ګډ کار وکړي، او دا چې د اتحاد او اتفاق په لار کې به هېڅ ډول خنډ نه جوړوي. دا خبرې د ۲۰۱۹م کال د ډسمبر له میاشتې څخه د ۲۰۲۰م کال د جولای تر میاشتې پورې د یوې پرله‌پسې مودې په اوږدو کې ترسره شوې.

له دې وروسته، د عمر خالد خراساني رحمه‌الله له لوري یو څلورکسیز هیئت وټاکل شو، چې ولاړ او د تحریک طالبان پاکستان د امیر پر لاس یې د بیعت اعلان وکړ. له همدې سره نور کسان هم له

تحریک سره یوځای شول، چې تړاو یې د حافظ ګل‌بهادر، حاجي منګل‌باغ ګروپ، لشکر جنګوي او د نورو ګروپونو او سیمو سره و. په دغو کسانو کې مولوي علیم خان، علي داوړ او عزام موسی د یادونې وړ دي. دا بهیر تر پنجاب او کراچۍ پورې وغځېد، او د الله تعالی په ځانګړي فضل او نصرت د تحریک د مشرتابه نیت او اراده د عملي کېدو مهم او تاریخي پړاو ته ورسېده.

د یو مسلمان او مجاهد په توګه، د اسلام د لارې نورو ټولو سپېڅلو مجاهدینو په ځانګړې توګه د پاکستاني مجاهدینو او بااحساسه مسلمانو ځوانانو مخې ته هم زموږ همدا بلنه، دعوت او دریځ دی چې د دیني لارښوونو په رڼا کې چې څومره ټینګار د صف پر یووالي او وحدت باندې شوی دی، او د هېواد او د وطن د مسلمانانو اوسنی وضعیت او روان حالات چې له موږ څخه د کوم جدي او مسؤولانه چلند تقاضا او غوښتنه کوي، دا هرڅه باید په بشپړه توګه په نظر کې ونیول شي. همدې اصل ته په کتو، له شرعي لارښونو، اسلامي هدایاتو او حالاتو سره سم، باید دې دعوت او ورسره تړلو عملي ګامونو ته لومړیتوب ورکړل شي.

د همدې مهمې موخې او عظیم هدف د ترلاسه کولو لپاره اړینه او ضروري ده چې نور ټول فرعي مسایل، اعتراضونه او اختلافات شاته پرېښودل شي، او د هېواد په کچه د فعال، او د برصغیر د تر ټولو ستر جهادي تنظیم، یعنې تحریک طالبان پاکستان له امیر، د جهادِ پاکستان مجدد، شیخ ابو منصور عاصم مفتي نورولي محسود صاحب حفظه الله، سره د بیعت له لارې د تحریک په لیکو کې شامل او ورسره پیوست شو.

هوکې؛ البته، د تنظیمي او اداري چارو اړونده غوښتنې، اعتراضونه او سپارښتنې یو جلا او ثانوي بحث دی، چې په هر صورت د خبرو، مشورې او حل وړ دي.

۲ـ له پښتون مېشتو سیمو څخه بهر د تحریک بیا تنظیم او فعالیت:

په تېرو پنځو تر اوو کلونو کې د تحریک طالبان پاکستان په جهادي بهیر کې یو مهم او د پام وړ پرمختګ او بدلون دا و چې له خیبرپښتونخوا څخه بهر مېشتو مجاهدینو هم خپل منظم شتون څرګند او اعلان کړ او د تحریک طالبان پاکستان په تنظیمي چوکاټ کې یې منظم مرکزي مرکزونه رامنځته کړل. که څه هم تر دې وړاندې هم د پنجاب او بلوچستان مجاهدین موجود وو، خو د تحریک د نظم او انضباط له پلوه د یووالي دغه بهیر په همدې موده کې لا روښانه او څرګند شو. په دې پړاو کې خلکو ته د جهاد او اسلامي نظام په اړه فکري پوهاوی ورکړل شو، او په عملي

ډگر کې هم یو شمېر جنګونه، نښتې او معرکې ترسره شوې. د ډېره غازي خان، میانوالي، لاهور او د بلوچستان غرنیزې او کلیوالې سیمې هغه ځایونه دي چېرې چې تحریک طالبان پاکستان په پرله‌پسې توګه خپل شتون څرګند او ثابت کړی دی. د ۲۰۲۵م کال په اوږدو کې د سیف الله، چې په ابو بصیر الشامي مشهور و، او د هغه د څو نورو ملګرو شهادت د جنوبي پنجاب په ډېره غازي خان ولایت کې هم د دې واقعیت یو ژوندی او روښانه ثبوت ګڼل کېږي.

همداراز، په همدې موده کې چودري منیب الرحمن جټ، مفتي ابو اللیث، د خالد بن ولید د ګروپ مسؤل علي معاویه، او یو شمېر نورو مجاهدینو د محترم امیر شیخ ابو منصور مفتي نورولي صاحب (حفظه‌الله) په لاس بیعت وکړ او له تحریک سره یوځای شول.

همدارنګه د بلوچستان ایالت هغه سیمه ده چې که څه هم د مزاحمت روحیه او بنه پکې له پخوا موجوده وه، خو له تحریک طالبان پاکستان سره د اړیکو د ټینګېدو بهیر پکې په همدې پړاو کې بشپړ او منظم شو. له ژوب، قلات، مکران، قلعه سیف‌الله، قلعه عبدالله، مستونګ، خضدار، چمن، کوټې او پشین څخه، د محترم عمر مختار، محترم قاري محمد، محترم مولوي محمد بلوچ، محترم مولوي شعیب بلوچ، محترم شاهد عمر بلوچ، محترم حاجي خالد، مولوي حذیفه او قاري احمد (حفظهم‌الله) تر مشرۍ لاندې د مجاهدینو مختلف لوی او واړه ګروپونه د تحریک طالبان پاکستان له جهادي چوکاټ سره یوځای شول.

هوکې؛ خبره په دې ځای نه تم کېږي، بلکې دله کراچۍ څخه هم د پېژندل شوي مجاهد نعیم بخاري (فك‌الله‌اسره) ګروپ، د قاسم غازي تر مشرۍ لاندې، له تحریک سره پیوست شو او یوځای شو. همدارنګه د ابودجانه سندي ګروپ هم د تحریک په صفونو کې ګډون وکړ.

که د همدې مودې د بریدونو شمېرې وڅېړل شي، نو په اسانۍ سره څرګندېږي چې تحریک طالبان پاکستان د خپلو شاوخوا له ۱۵ تر ۲۰ سلنې پورې عملیات له خیبرپښتونخوا څخه بهر ترسره کړي دي، چې په هغو کې یو شمېر ډله‌ییز استشهادي بریدونه هم شامل دي.

په پنجاب، بلوچستان او سند کې یوازې نظامي فعالیتونه نه وو، بلکې دعوتي چارې او فکري هڅې هم په پراخه کچه روانې وې. د همدې بهیر په ترڅ کې د مجاهدینو او عامو خلکو له ذهنونو دا تصور ورو ورو له منځه ولاړ چې ګواکې مجاهدین یوازې پښتانه دي، یا دا چې د هغوی فعالیتونه یوازې په یوه ځانګړې جغرافیایي

موقعیت پورې محدود دي. یو بل مهم پرمختګ دا و چې د وړتیاوو او صلاحیتونو له مخې غیر پښتنو مشرانو ته هم مسؤلیتونه وسپارل شول، په ځانګړي ډول دا چې د خپلو سیمو څارنه او هلته پوځي چارې پخپله پر مخ یوسي.
دا حقیقت هم له پامه نه شي غورځېدای چې په ځینو قبایلي سیمو لکه کرم ایجنسۍ، اورکزو او مومندو، او همدارنګه د خیبرپښتونخوا په ځینو ښاري او بندوبستي سیمو لکه پېښور، مردان، صوابۍ، دیر، لکي مروت، ډېره اسماعیل خان، ټانک، کوهاټ، کرک او هنګو کې تحریک له درې تر شپږو کلونو پورې د نظامي فعالیتونو له پلوه غیر فعال پاتې شوی و؛ خو د الله جل جلاله په فضل هغه ورځې هم راغلې چې په ګلګت بلتستان او چترال کې هم د تحریک سپین بیرغ په وياړ سره هسک او رپاند ولیدل شو.
۳ـ د افرادي قوّت او مادي ځواک زیاتوالی او د بریدونو ډېرښت:
په ۲۰۱۴م کال کې د ظالمانه او وحشي عملیاتو، چې د ضربِ عضب تر نوم لاندې ترسره شول، له پیل وروسته، د تحریک طالبان پاکستان نظامي ځواک د نورو فعالیتونو تر څنګ په ظاهره توګه کمزوری شوی و، او د عملیاتو ګراف په رښتیا هم د اندېښنې وړ حد ته رسېدلی و. دا پړاو ښايي د تحریک لپاره یو ستر ازمېښت او سخت امتحان بلل کېدای شي؛ داسې انګېرل کېده چې د تحریک شوکت او قوت د زوال پر لور روان دی، دښمن په خوښۍ کې ډوب و، او د جهادي فکر لرونکي مؤمن مسلمانان د زړه له کومې خوابدي وو. خو ربُّ المجاهدین بل څه اراده کړي وو. راځئ چې د همدې مودې د هېواد په کچه د عملیاتو پر بهیر یو ځغلنده نظر واچوو.
۲۰۱۸م کال هغه پړاو و چې له درې تر څلورو کلونو وروسته یې یو ځل بیا د مؤمنو پرګنو د مړو هیلو څرک راژوندی کړ؛ که څه هم د دغه کال د عملیاتو شمېرې د ۲۰۱۷م کال په پرتله لږې وې. په ۲۰۱۹م کال کې دغه شمېر لا هم ۱۳ سلنه راکم شو، او په ۲۰۲۰م کال کې د مخکیني کال په پرتله ۳۶ سلنه کمښت ولیدل شو. خو په ۲۰۲۱م کال کې، کله چې له تحریک طالبان پاکستان سره د نورو جهادي ډلو د شمولیت او یوځای کېدو لړۍ پیل شوه، د بریدونو شمېر په څرګند ډول ۴۲ سلنه زیات شو. په ۲۰۲۲م کال کې دغه کچه ۲۷ سلنه لوړه شوه، او په ۲۰۲۳م کال کې بیا ۱۷ سلنه زیاتوالی ثبت شو. وروسته ۲۰۲۴م کال د ۷۰ سلنه زیاتوالي شاهد و. له بلې خوا، د ۲۰۲۵م کال د لومړنیو شمېرنو له مخې، څېړونکي په دې اند دي چې له هغه وخته چې په پاکستان کې د

«ترهګرۍ» اصطلاح کارول کېږي، یعنې له هغه وخته چې روان مبارک جهاد پیل شوی، دغه کال تر ټولو خطرناک پړاو بلل شوی دی.
دغه شمېرې د آزادو رسنیو او د معلوماتو د راټولولو له بېلابېلو ادارو څخه ترلاسه شوې دي.
د تحریک طالبان پاکستان د خپرو شوو رسمي شمېرنو له مخې، په ۲۰۱۸م کال کې ۱۵۰، په ۲۰۱۹م کال کې ۱۰۹، په ۲۰۲۰م کال کې ۱۷۷، په ۲۰۲۱م کال کې ۲۸۲، په ۲۰۲۲م کال کې سره له دې چې درې میاشتې اوربند هم موجود و؛ ۳۶۷، په ۲۰۲۳م کال کې ۸۸۱، او په ۲۰۲۴م کال کې ۱۷۵۸ بریدونه ترسره شوي دي. او د ۲۰۲۵م کال شمېرې بیا له ۳۵۰۰ څخه اوښتې دي.
د دغو بریدونو په ترځ کې د ګوډاګي ریاست د تش په نامه اجیرو امنیتي ادارو زرګونه کارکوونکي پوځیان، ایف سي عسکر، پولیس، کوماندویان او استخباراتي کارمندان وژل شوي او یا ټپیان شوي دي. یو بل د پام وړ پرمختګ دا و چې په همدې موده کې یو شمېر د اجیر ریاست امنیتي کارکوونکي او شریعت دښمنه عسکر ژوندي نیول شوي، او د بېلابېلو ادارو شاوخوا ۳۰۰ کارکوونکي مجاهدینو ته تسلیم شوي دي. تر ټولو مهم ټکی دا دی چې د دغو پراخو عملیاتو پر مهال د ملکي وګړو د زیان د کمولو حتی الوسع هڅې شوې دي.
یادو بریمنو عملیاتو او ګړندیو بریدونو دښمن داسې وارخطا او ګنګس حالت ته ورسولو چې د جګړې هرډول اصول او قوانین یې تر پښو لاندې او د خپل غچ او قهر د سړولو لپاره یې د عام ولس کورونه، عامه آبادیانې، جوماتونه، مدرسې او ښوونځي د جګړې د منظمې صحنې برخه وګرځول. تر دې هم هاخوا، بار بار یې د انساني کرامت سپکاوی ترسره او آن د مړو جسدونو بې‌حرمتي ته لاس واچاوه.
دا هم د یادونې وړ ده چې، د بریدونو د شمېر زیاتوالی او د جغرافیایي پراختیا بهیر د عصري وسلو او د افرادي ځواک د حیرانوونکي زیاتوالي پرته شونی نه و؛ خو دا پرمختګ هم په همدې موده کې رامنځته شو. د رسنیو د راپورونو له مخې، په شمالي او جنوبي زونونو کې د هېواد دننه شاوخوا له شپږو تر لسو زرو پورې مجاهدین شتون لري. سره له دې، تحریک طالبان پاکستان دغه شمېرې هېڅکله په رسمي توګه نه دي خپرې کړې. خو دا خبره یقیني ده چې په هر ولایت کې د مجاهدینو شمېر د پخوا په پرتله د پام وړ زیات شوی دی.
همدارنګه دا هم باید په ګوته شي چې د نورو تنظیمونو څخه ورګډ شوو مجاهدینو تر څنګ،

د هغو کسانو یوه لویه برخه هم له تحریک سره یوځای شوې ده چې له دې وړاندې یې هېڅکله په جهادي فعالیتونو کې برخه نه وه اخیستې.

۴ـ نظم، انضباط او کاري تګلاره:

تحریک طالبان پاکستان پخوا د حلقو (یعنې ضلعو) د یو ډول ایتلافي جوړښت په بڼه تنظیم شوی و، خو اوس دا پخوانی نظام په بشپړه توګه بدل شوی دی. نوی تشکیلاتي جوړښت د افغانستان د اسلامي امارت د نظام پر طرز برابر شوی او په منظم ډول په زونونو، ولایتونو، ولسوالیو او بیا په ډلګیو (ګروپونو) وېشل شوی دی.

د دې تشکیلاتي هرم په سر کې امیر قرار لري، له هغه لاندې رهبري شورا فعالیت کوي، چې پکې د مرکز مرستیال امیر هم شامل دی. له مرکزي رهبرۍ وروسته، ټول تنظیم په څلورو زونونو وېشل شوی دی: شمالي زون، جنوبي زون، مرکزي زون او غربي زون.

هر زون خپل ځانګړی زوني نظامي کمېسیون لري، چې د اړتیا، شمېر او وړتیا له مخې له مناسبو کسانو څخه جوړ شوی او د یو مسئول تر مشرتابه لاندې فعالیت کوي.

جنوبي زون:

بنو، کرک، ډېره اسماعیل خان، ټانک، لکي مروت، شمالي وزیرستان، جنوبي وزیرستان، جنوبي پنجاب، کراچۍ او د سند داخلي سیمې.

منځنی زون:

پېښور، نوښار، چارسده، خیبر، مهمند، کوهاټ، اورکزي، کرم، هنګو او شمالي پنجاب.

شمالي زون:

سوات، بر دیر، کوز دیر، شانګله، بونیر، چترال، د ملاکنډ ډویژن، مردان، د هزاره ډویژن، باجوړ، ګلګت بلتستان، صوابۍ او کشمیر.

غربي زون:

کوټه، هرنایي، ژوب، موسی خېل، شیراني، قلعه سیف الله، لورالایي، پشین، قلعه عبدالله، مکران او قلات.

په همدې توګه، دا د تحریک طالبان پاکستان جغرافیایي پراخوالی او تنظیمي نقشه ده؛ یعنې هغه سیمې چې د تحریک تشکیلاتي جوړښت پکې په یوه یا بله کچه موجود او فعال دی.

د نظامي کمېسیونونو تر چتر لاندې ولایتونه ځای لري؛ یعنې یو یا دوه ضلعې یو ځای د یوه ولایت په توګه فعالیت کوي. د ولایت تر کچې لاندې ولسوالۍ یا تحصیلونه واقع دي، چېرې چې مجاهدین د ډلګیو (ګروپونو) په بڼه خپل فعالیتونه پر مخ وړي. څو ګروپونه او ډلګۍ کولای شي له یو بل سره په جهادي او تنظیمي چارو کې همکاري وکړي، خو دا همکاري په ځانګړو او ټاکل شوو

چوکاټونو کې د نافذه قوانینو او تحریکي لایحو له مخې، اجازه لري.

سربېره پر دې، تحریک طالبان پاکستان په خپل اداري او تنظیمي جوړښت کې بېلابېلې تخصصي شعبې، ادارې او کمېسیونونه لري، لکه: اعلامي کمېسیون، د میډیا څانګه، سیاسي کمېسیون، معسکرات، د هوايي ځواک اداره، دار القضاء (محاکم)، دارالافتاء، د متفجراتو شعبه، د ځانګړي استشهادي ځواک کنډک، قطعات، د اقتصاد چارو کمېسیون، د فلاح او بهبود اداره، د تعلیم او تربیې کمېسیون او د احتساب اداره...

هره شعبه ځانګړې وړتیاوې او مشخص مسؤلیتونه لري، چې د تحریک په لوایحو (قوانینو) کې په څرګند ډول بیان شوي دي.

ځینې شعبې د نظامي کمېسیونونو تر سرپرستۍ لاندې فعالیت کوي، خو ځینې نورې په مستقیم ډول له مرکزي قیادت او رهبري شورا سره تړلې دي. د میډیا په څېر سترې شعبې کله ناکله فرعي څانګې هم لري، په داسې حال کې چې ډېرې نورې شعبې که څه هم فرعي څانګې نه لري، خو جغرافیايي وېش پکې مراعات شوی دی. د بېلګې په توګه، د تعلیم او تربیې کمېسیون په درې سطحو وېشل شوی دی: مرکزي، ولایتي، او تحصیلي یا د ولسوالۍ په کچه.

د مسؤلینو د ټاکلو او بدلون واک له مرکز (رهبري شورا) سره دی، خو د ولایت دننه اداري بدلونونه د اړوند نظامي کمېسیون له لارې ترسره کېږي. همدارنګه، د کلني احتساب له بهیر وروسته، د نظم او انضباط په چارو کې د اړتیا له مخې ځینې محدود بدلونونه هم راوستل کېږي.

۵ـ د دښمنانو کمول او له قوم سره نږدېوالی:

دا خبره د انکار وړ نه ده چې د دښمنانو کمول (تقلیلُ الاعداء) د یوې شرعي، سیاسي او جهادي تګلارې په توګه یادېږي. همدارنګه دا هم نه شي رد کېدای چې تحریک طالبان پاکستان پر دې تګلارې عملي ګامونه پورته کړي او له هغې څخه یې یو لړ ګټې ترلاسه کړې دي. که د تحریک طالبان پاکستان په اړه تلویزیوني بحثونه، شننې او یا تحریري مواد وکتل شي، نو په څرګند ډول به ولیدل شي چې د اوسنۍ رهبرۍ او قیادت تر مشرۍ لاندې لاندې اقدامات ترسره شوي دي:

په عامه ځایونو کې د ټاکل شوو اهدافو په منظم ډول په نښه کول؛

په جوماتونو، ښوونځیو او د جنازو په ځایونو کې د عملیاتو مخنیوی؛

د هغو غیرعسکري سیاسي اشخاصو نه په نښه کول، چې په مستقیم ډول د تحریک پر ضد په جرم کې ښکېل نه وي؛

له امن کمېټو، اربکیانو، د مجاهدینو خلاف پاڅونونو او ورته فعالیتونو کې د ښکېلو کسانو سره، د راتلونکو فعالیتونو د نه تکرار په شرط، د جګړې د نه کولو تفاهم؛

د ملي ګټو په پام کې نیول؛

د عامه او سیمه‌ییزو حالاتو ارزونه او رعایت؛

له خلکو سره د ټولنیزو اړیکو او ولسي تړاو بهیر ژوندی ساتل؛

په پاکستان کې د روان مبارک جهاد د دعوت او فکر عامول؛

د اسلامي جهادي سیاسي مصلحتونو رعایت او له دیني مدارسو او دیني طبقې سره تړلو کسانو سره د اړیکو ټینګښت.

د دغو ټولو ټکو له مجموعې څخه د پایله ترلاسه کېږي چې په تېرو اوو کلونو کې تحریک طالبان پاکستان خپل تمرکز په بشپړه توګه د پوځ، پولیسو، فرنټیر کور، آی‌اېس‌اېي او د پوځ پلوي کمېټو پر ضد د مستقیمې جګړې پر لور اړولی دی. که د عمر مېډیا خپرونې او مواد وکتل شي، نو په څرګنده توګه ښکاري چې په همدې موده کې پوځي او نورې اجیرې امنیتي ادارې له درنو زیانونو سره مخ شوې دي، خو د عام ولس منفي غبرګون نسبتاً محدود پاتې شوی دی. سربېره پر دې، یو شمېر نورې مادي او معنوي پایلې هم ترلاسه شوې دي.

د یادونې وړ ده چې د دغو تګلارو د عملي کېدو له امله مجاهدین د هېواد په بېلابېلو سیمو کې مېشت شول، او آن په هغو ځایونو کې هم د اوسېدو زمینه برابره شوه چې پخوا یې تصور هم نه کېده. همدا لامل دی چې نن ورځ نه یوازې په قبایلي سیمو کې، بلکې د هېواد په بندوبستي سیمو کې هم خلک د خپلو ستونزو د حل، د جرمونو د مخنیوي او د شخړو د هواري لپاره له مجاهدینو سره اړیکه نیسي او خپلې غوښتنې او شکایتونه ور وړاندې کوي، چې د دې چارې لپاره تحریک طالبان پاکستان پر یوه ځانګړې کاري تګلارې عمل کوي.

٦ـ د رسنیو اړتیا او عمر مېډیا:

رسنۍ (مېډیا) په معاصر دور کې د معلوماتو د لېږد رالېږد تر ټولو اغېزمنه او ځواکمنه وسیله ده. رسنۍ ولس ته د حالاتو، سیاسي پرېکړو، اقتصادي بدلونونو او ټولنیزو ستونزو په اړه پر وخت خبرتیاوې برابروي. همدارنګه رسنۍ د عامه افکارو په جوړولو کې هم مهم رول لري او خلک د رسنیو (مېډیا) له لارې د ترلاسه کېدونکو معلوماتو پراساس د سمو پرېکړو کولو ته چمتو کېږي. د تعلیم، کلتور او ټولنیزې اصلاح په برخه کې هم رسنۍ بنسټیز اهمیت لري. د تعلیمي

پروګرامونو، مستندو فلمونو او مثبتې محتوا له لارې د ولس فکري روزنه ترسره کیږي.

په معاصر دور کې، د بریښنایي او ډیجیټل رسنیو له لارې نړۍ د یو نړیوال کلي بڼه خپله کړې، چېرته چې معلوماتو ته فوري لاسرسی ممکن شوی دی. له همدې امله یو متوازن، اصولي او مسئولانه رسنیز نظام د هرې پرمختللې ټولنې، هېواد او تنظیم بنسټیزه اړتیا ګڼل کیږي. په ځانګړې توګه دا حقیقت د پام وړ دی چې د ۱۱/۹ وروسته د رسنیو سمت او رول په بشپړه توګه بدل شوی دی. د دغو اړتیاوو په رڼا کې، تحریک طالبان پاکستان د رسنیو ځانګړې شعبه هم جوړه کړې ده. د دې لپاره تر ټولو لومړی یو کمېسیون جوړ شوی، چې د اعلامي کمېسیون په نوم پېژندل کیږي. دا کمېسیون له اوو غړو جوړ دی، چې هر ډول مواد له خپرېدو څخه مخکې لولي، ګوري او اوري. همدارنګه د اعلامیو خپرول او د پیښو په اړه د تحریک رسمي دریځ څرګندول هم د همدې کمېسیون په دندو کې شامل دي.

د اعلامي کمېسیون تر سیوري لاندې د عمر مېډیا اداره فعالیت کوي، چې د یوه مسؤل تر مشرۍ لاندې په لاندې څانګو وېشل شوی دی:

- د ویډیو سټوډیو
- د آډیو سټوډیو
- ایف‌ایم راډیو
- د مجلو او تالیف څانګه
- ټولنیزې رسنۍ (سوشل میډیا)
- د ژباړې څانګه
- په ټولیز ډول دا ټولې څانګې اسلامي، جهادي او سیاسي محتوا تولید او خپروي.
- د ویډیو سټوډیو د یوه مسؤل تر څار لاندې فعالیت کوي او د تحریک د جهادي عملیاتو، د مجاهدینو د نظامي روزنې، د پوځ د ظلمونو، د فلاح او بهبود د پروګرامونو، د علماوو ویناوو، سیاسي حالاتو، تازه پېښو، د شهیدانو یادونو او جهادي سفرونو اړوند ویډیویي مواد چمتو او خپروي.
- د آډیو سټوډیو د پښتو او اردو ترانې او ځینې آډیویي بیانات تولید او خپروي.
- ایف‌ایم راډیو هم ورته محتوا خپروي، خو پکې دیني درسونه، ویناوې، پوښتنې او ځوابونه او نور پروګرامونه هم شامل دي، چې په محدوده جغرافیایي ساحه کې اورېدل کیږي.

د مجلو څانګه لاندې ډیجیټلي رسالې چمتو او خپروي:

- مجله «طالبان» (اردو)
- مجله «صدای طالبان» (پښتو)
- مجله «بنات خدیجة الکبریٰ»

په دغو مجلو کې اسلامي مقالې، جهادي موضوعات، د مشرتابه پیغامونه، د تحریکي مسؤلینو مرکې، د شهیدانو یادښتونه او د جهاد اړوند پېښې خپرېږي. د مجلو د ځانګې تر چتر لاندې د «منزل» ورځپاڼه هم شامله ده، چې یو مخ لري او هره ورځ خپرېږي.

د ټولنیزو رسنیو (سوشل میډیا) ټیم د پورته یادو ټولو موادو د خپرولو، د دښمن د پروپاګندونو ځواب ورکولو، د ناسم او غیر اصولي موادو د خپرېدو مخنیوي، او د هر ځانګړي موضوع لپاره د ټاکلو هیشټاګونو په جوړولو او د اړونده موادو د خپرولو چارې پر مخ وړي. په ټولنیزو رسنیو کې د تحریک خپل رسمي کاروونکي هم شته، خو ټیم د تحریک څخه بهر یا نامعلومو کاروونکو لپاره هم په ځانګړې او ټاکلې تګلارې کار کوي.

د ژباړو شعبه اصلي مواد پښتو، فارسي، انګلیسي او عربي ژبو ته ژباړي.

دا هم د پام وړ ده چې د عمر میډیا دوامداره خپرونې او د دې ادارې بې‌وقفې هڅو پایله دا شوه چې پوځ اړ شو چې په جعلي اکاونټونو او پروپاګندیزو موادو کار وکړي. که تاسو ټولنیزې رسنۍ کاروئ، نو ښایي لیدلي مو وي چې سلګونه ټویټر او فېسبوک اکونټونه، مجلې، پوډکاسټونه او نورې رسنۍ رامنځته شوې دي، چې یوازینۍ موخه یې د پوځ پروپاګند خپرول، د تحریک مخالفت ته د خلکو هڅول، جعلي ویډیوګانې خپرول، او د ناکامو پوځي عملیاتو د کامیاب ښودلو هڅې وې.

خو د الله تعالی شکر دی چې د دې ټولو سربېره، شنونکي وايي چې د مجاهدینو د تحریک طالبان پاکستان میډیا او بیانیه تر ټولو ځواکمنه او مؤثره ده. تاسو به لیدلي وي چې په همدې موده کې تحریک له ګڼو پرمختګونو او پوځ او اجیرې ریاستي ادارې له ماتې، ناهیلۍ، شکست او وارخطایي سره مخ شوې.

۷- یو مهم ټکی:

دلته دا هم د یادونې وړ ده چې په تېرو اوو کلونو کې په تحریک کې ګڼ شمېر بدلونونه راغلي دي، او په همدې لړ کې دا ځانګړی بدلون هم رامنځته شوی چې د جګړې د ډګر له لومړۍ کرښې بیا تر تر میډیایي بیانیې او رسنیز انعکاس پورې ټول هغه اعمال او خبرې چې د انتقاد او پروپاګند موضوع جوړېدې، بندې شوې دي. په عوامي ځایونو کې په عملیاتو کې محتاط چلند، مالي او نورو چارو کې شفافیت، له خلکو سره سالمې اړیکې، د پخوانۍ لنډمهاله امن کمېټو له غړو سره د دښمنیو پای ته رسول، او په میډیا کې د تحریک د ښه انځور او مثبت پیغام وړاندې کول هغه ګامونه دي چې دښمن یې حیران او ګوته په غاښ کړ.

کله چې د رياستي ادارو زورواکو پوځي جنرالانو او بې‌دينه حکمرانانو وليدل چې د تحريک بيانيه، عمليات، افکار او کړنې نور د انتقاد وړ نه دي، يعنې هغوی (مجاهدين) دا وايي چې، «موږ د همدغو علماء کرامو شاګردان يو او د همدې علماء کرامو د فتواوو او لارښوونو مطابق عمل کوو، چې تر نن ورځې پورې په پاکستان کې معتبر او منل شوي دي». همداراز له علماء کرامو سره د بيانونو، نظرياتو او خبرو اترو تبادله وشوه، ملاقاتونه او مجالس ترسره شول، او د مذاکراتو پر مهال تر ډېره تګ راتګ روان و. مجاهدين په بېلابېلو سيمو کې مېشت او د جهاد دعوت يې عام کړ او خلک يې په دې خبره او پټ ساتل شوي حقيقت وپوهول چې پر دې هېواد حاکم نظام زموږ نه دی، بلکې د اهل مغرب لخوا جوړ او په موږ تپل شوی يو غير اسلامي او فاسد نظام دی. دلته ظلم روان دی، هره ورځ قتل عام ترسره کېږي، پوځي جنرالان، د پارلمان زورواکان او رياستي بې‌دينه حکمرانان د خپلو عياشيو بوج د ولس پر غاړه او مرۍ ور اچوي، په جبر او استبداد سره رامنځته شوي حکومتونه پر خلکو تحميل کېږي، او دلته په هېواد کې له اوسېدو سره سره، د خلکو لپاره په آسټراليا، فرانس، دوبۍ او سعودي عربستان کې د ژوند کولو پلانونه جوړېږي... نو هماغه و چې د پوځ مېډيايي سکتور د عجيبو او بې‌ساري پروپاګندونو پيل وکړ.

يو بشپړ تبليغاتي سيسټم او سيټ‌آپ رامنځته شو، جعلي انځورونه، جعلي ويډيوګانې، جعلي بيانيې، د تحريک رسمي پاڼو نقلونه او آن جعلي اعلاميې خپرېدل پيل شول. علماؤ سوء د امت د لارښوونکو په نوم ځوانانو ته وښودل شول، د پالشي او کمزورو خبريالانو په کارولو سره له بې‌ضميره او خرڅ شوو پوځي شنونکو څخه ډېر غير سنجيده تجزيې ثبت شوې، او ترټولو د شرم دا چې ځوانې ښځې د داسې نازيبا او ناروا کړنو لپاره وکارول شوې چې د بيانولو څخه يې قلم هم عاجز دی.

خلاصه دا چې، هر هغه ځای چې تحريک به پکې د تعميري او مثبت کار لپاره ګام پورته کړ، اجير دښمن يې په ځواب کې پروپاګند پيل کړ. خو د الله جل جلاله په فضل، دښمن نن د ټولو امکاناتو، ټکنالوژۍ، بشري او مادي ځواک، او د دوی د «نمبر ون پوځي» دعوې باوجود، وارخطا، مايوسه او د ماتې په انتظار ناست دی. که د چا باور نه راځي، کولای شي د دوی بيانات او پروپاګند وګوري خصوصاً په تېرو دوو کلونو کې؛ چې کله به يې د «يا ټرمپ مدد» غږ راپورته شو، او کله به يې د ملګرو ملتونو په غونډو کې چيغې واورېدل

شوې، او کله به تر کابل پورې منډې تر ړې وهلې.
خلاصه دا چې دښمن هره هڅه وکړه ترڅو ځان ته ملاتړ او خواخوږي پیدا کړي، خو د تل په څېر ناکام پاتې شو.

۸ ـ ضمیمه؛ څو سپارښتنې:

په پای کې دا عاجز بنده غواړي دوه مهمې غوښتنې ستاسو مخې ته کېږدي: یوه د عامو مجاهدینو لپاره او بله د مسئولینو لپاره.

داچې چې تر قرآنکریم غوره، بنستیزه او بشپړه لارښوونه او مشوره هیڅ چرته نشته ، نو له همدې امله د عامو مجاهدینو لپاره زما غوښتنه او سپارښتنه دا ده چې تر هر څه لومړی هغه صفات په ځان کې راژوندي او عملي کړي چې د مجاهدینو لپاره په ځانګړي ډول د سورة الانفال او سورة الحجرات په آیتونو کې بیان شوي دي:

- له الله جل جلاله څخه ووېرېږئ او تقوی خپل شعار وګرځوئ.
- خپلمنځي تعاملات مو سم، عادلانه او د ورورولۍ پر بنسټ وساتئ.
- د الله تعالی اطاعت وکړئ.
- د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لارښوونو پابندي وکړئ.
- ذکر او د قرآنکریم تلاوت په دوامداره توګه ترسره کړئ.
- پر الله تعالی بشپړ توکل وکړئ.

د لمانځه پابندي وکړئ.

- د الله په لار کې تر خپلې وسې پورې خپل ځان او مال ولګوئ.
- د «قال الله و قال الرسول» تر نامه لاندې ځان لوی مه ګڼئ.
- د مشرانو ادب، درناوی او احترام وکړئ.
- د هر چا خبره بې له تحقیق او پلټنې مه منئ.
- د صلح، یووالي او ورورولۍ په چوکاټ کې ژوند وکړئ.
- تکبر مه کوئ او بل څوک له ځانه کم مه ګڼئ.
- د بدو او سپکو القابو له کارولو ډډه وکړئ.
- بدګماني مه کوئ او د شک له فضا ځان وساتئ.
- له قومپرستۍ، تعصب او تفرقې څخه ځان وژغورئ.

همداراز د نبي کریم ﷺ د احادیثو په رڼا کې دا ټکي په خپل فکر او عمل کې جدي ونیسئ:

- له خیانت څخه ځان وساتئ.
- دروغ مه وایئ.
- له ډېرو خبرو او بې ځایه خنداګانو ډډه وکړئ.
- په لوبو او بې هدفه فعالیتونو کې خپل ارزښتناک وخت مه ضایع کوئ.
- د الله تعالی ذکر هېڅکله مه هېروئ.

همدارنګه، د نظم او ترتیب له مخې، پر ټولو لازمه ده چې د خپل مافوق امیر اطاعت وکړي او د تحریک د شرعي لوایحو (قوانینو) او پالیسیو بشپړ رعایت او پاسداري وکړي.

د مسئولینو لپاره، د پورته سپارښتنو ترڅنګ، دا ځانګړې پاملرنه اړینه ده چې له خیانت څخه په کلکه ځان وساتي. د خپلو ماتحتو افرادو څارنه دې د شریعت مطهره له اصولو سره سمه ترسره کړي، ځکه چې د قیامت په ورځ به داسې پوښتنه او امتحان وي چې د خلاصون هېڅ لار به پکې نه وي. همدارنګه، د دښمن پر ټولو کړنو دې هر اړخیز نظر او دوامداره څارنه وساتل شي.

د مجاهدینو د ماشومانو، په ځانګړي ډول د یتیمانو، تعلیم او روزنې ته دې ځانګړې پاملرنه وشي. د الله تعالی په دربار کې خپلې ژړاوې، سلګۍ او دعاوې زیاتې کړئ، ځکه ستاسو ژړا او دعا د عام ولس له ژړا سره ژور توپیر لري. خپلې ناستې مو په تقوا، دیانت او جهادي مصالحو څخه ډکې او روښانه وساتئ. شرعي منهج مه پرېږدئ. د اسلامي نظام د نفاذ لپاره هڅه، جهاد او قرباني تل د خپلو لومړیتوبونو په سر کې ولرئ. د بندیانو، یتیمانو، کونډو او بې‌وزلو حالت دې تر ممکنه حده وڅارل شي. خپلو ماتحتو مجاهدینو ته د ملاتړ، پاملرنې او تسلیت لاس ورکړئ، او د مجاهدینو ترمنځ ستونزې دې په شایسته، عادلانه او شرعي ډول حل کړئ.

په ځانګړې توګه دې ټکي ته ژور پام وشي: که تاسو بې‌پروا شئ، منحرف شئ، تېروتنې وکړئ، ګناه او خیانت ترسره کړئ، یا د کفر په فریب کې راګیر شئ، نو بیا به د دې امت حال څوک سموي؟ داسې مه کوئ چې هغه ستنه چې د چت د ملاتړ لپاره ولاړه وي، خپله له دننه خوړل شوې او کمزورې وي.

په پای کې دا خبره په غور سره په یاد ولرئ چې موږ او تاسو ټول تل اصلاح، پرمختګ او لا ښه والي ته اړتیا لرو. نو هره شعبه، هر کمېسیون او هره سیمه او ولایت دې دا اصل د خپل کار بنسټ وګرځوي.

الله جل جلاله دې زموږ ټولو ملاتړی او ناصر وي. آمین.

لیکوال: رفیق تسل

ولې د تحریک طالبان پاکستان ملاتړ وکړو؟

له څو لسیزو راهیسې د پاکستان پر پاکه خاوره واکمن سیاسي او اداري جوړښت د نړۍ د زورورو هېوادونو او د دیکتاتوري فکر لرونکو قوتونو د ګټو د تحقق په اډه بدل شوی دی. همدغه بهرنۍ اغېزه او تسلط د دې لامل شوی، چې د پاکستان د مسلمان او غیور ولس عقیدوي، فرهنګي او ملي توازن ورو ورو له زوال سره مخ شي، او د خپلې خاورې او سیاست اختیار د پردیو په لاس کې ولوېږي.

د همدې حالت له امله، د پاکستان ولس اقتصادي او تجارتي بنسټونه له ژور رکود سره مخ شوي دي؛ داسې رکود چې عام خلک یې د مجبورۍ له مخې د بهرنیو هېوادونو مزدورۍ او هجرت ته اړ کړي دي. صادراتو او تولیداتو د کم کیفیته کېدو له امله په نړیوالو بازارونو کې خپل ارزښت له لاسه ورکړی او د بې‌باورۍ ټاپه ورباندې لګېدلې ده.

د نړیوالو سیاسي او اقتصادي پروژو په نوم، ولس له داسې ستونزو سره مخ شوی چې د ټولنې د هر قشر ژوند او استوګنه یې سخته کړې ده. خلک د خپلو مشروع غوښتنو د مطرح کولو په بدل کې د دهشتګرۍ او بغاوت په نومونو تورن کړل شوي دي.

دلته د بېلګو پر ځای، د اصل حقیقت بیان اړین دی:

که د پاکستان مجاهد، متدین، مسلمان او غیور ولس غواړي چې خپلو شرعي، ورځنیو، فرهنګي او ټولنیزو حقونو ته ورسېږي، او په رښتینې معنا د خپل برخلیک لپاره مبارزه وکړي، نو لازمه ده چې د تحریک طالبان ملاتړ وکړي، تر څو دا پراخه بلواکي په مشروع، منظم او دایمي حریت بدله شي.

دا باید ومنو چې د بلواکۍ تر واک لاندې ژوند تل له ظلم، وحشت، تبعیض او تېري څخه ډک وي. هغه ظلمونه او ناوړه پېښې چې په قبایلي سیمو او نورو برخو کې ترسره شوي، تاریخ یې کم‌ساري ګڼي. د پاکستان ولس ته پکار ده چې دغه تجاوز په ژوره توګه درک کړي.

(پاتې پر ۱۸ مخ...)

لیکوال: ابو جریر

د حلال رزق ګټل او په فردي او ټولنیز ژوند یې اغیزې

حلاله روزي ګټل او په فردي او ټولنیز ژوند یې اغیزې:

که موږ د خدای جل جلاله امرونو او احکامو ته ژور نظر واچوو، نو معلومه به شي چې اسلام د ټولنې او ژوند دین دی او په مختلفو برخو کې د زیار او اجتهاد غوښتونکی دی.

او د هر هغه سستي، تمبلي او انزوا سره جګړه کوي چې د فقر او اخلاقي خرابیو لامل ګرځي. د چارواکو او کورنیو له اندېښنو څخه یو هم، بطالت او سستي ده. په داسې حال کې چې اندونه د ژوند په ټولو برخو کې د ودې، سوکالۍ، سوداګرۍ، کرنې او صنعت په برخو کې خپل اصلي هدف ته د رسېدو لپاره هلې ځلې کوي. چې دا پدیده یوازې له زیار سره ترلاسه کېدای شي.

د روزي د تر لاسه کولو مسله د خاصو او عامو موضوع ګرځېدلې ده. آن تر دې پورې چې د دې موخې د لاسته راوړلو لپاره ناروا کړنو ته لاره هواروي چې د ټولنې د ګډوډۍ او د اسلام د ډېرو قوانینو د پاشلتیا او د حکومت له ځینو ضوابطو او مقرراتو څخه د سرغړونې لامل ګرځي. نو د رزق په ترلاسه کولو کې د کامیابۍ او له اخلاقي او ټولنیز فساد او اقتصادي بحرانونو څخه د ځان ساتلو لپاره؛ د اسلام مبارک دین د حلال رزق د حاصلولو امر او توصیه کوي او د هغې د ترلاسه کولو لارې چارې یې مسلمانانو او نړۍ والو ته بیان کړې دي او په دې لاره کې هلې ځلې یې د ژوند د وظیفو برخه ګڼلې ده. تر څو د دې په برابرولو سره د ژوند آبادي او په دنیا او آخرت کې منزل ته رسیدل اسانه شي.

د نصوصو او دیني مشرانو له ویناو سره سم د حلال رزق ترلاسه کولو اهمیت:

خدای تعالی موږ ته د ژوند په چارو کې د کار، جدیت او هلو ځلو بلنه راکوي او دا خبره یې د قرانکریم په څو آیتونو کې ذکر کړې ده. لکه څنګه چې وایي:

فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللهِ وَاذْكُرُوْا اللهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ

بیا کله چې لمونځ تر سره شي، نو په ځمکه کښې خواره شئ او د الله فضل ولټوئ. او د الله ډېر ډېر یادوونکي اوسئ. ښایي چې تاسې ته بری په برخه

شي.

لوی خدای جل جلاله، انسان له دوو مهمو قواوو "روحاني او جسماني" څخه پیدا کړی دی. د انسان د پیدایښت موخه د معنوي ځواک پیاوړي کول دي. تر څو د خپل پیدایښت دغه هدف ترلاسه کړي او د دې آیت په مقتضا او محتوا عمل وکړي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُوا۟ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعْمَلُوا۟ صَٰلِحًا ۖ إِنِّى بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ (مؤمنون: ٥١)

اې پېغمبرانو! پاك شیان وخورئ او نېک عمل وکړئ؛ تاسي چي هر څه کوئ، زه وربانديي ښه پوهېږم.

د رزق د نعمتونو له ذکر وروسته د نیکو اعمالو یادونه شوې؛ ځکه چې په حلال خوړلو سره په نیکو کارونو کې کامیابي حاصلیږي او د ایمان او آرامښت رڼا راښکاره کیږي. د الهي نعمتونو کارونه او له الهي منهیاتو څخه ډډه، په فردي او ټولنیز ژوند کې مهم رول لوبوي. لکه څنګه چې د اسلام ګران پیغمبر حضرت محمد ﷺ خپل اصحاب، ابرومندانه زیار ته هڅول او ویل به یې:

وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ فَيَحْتَطِبَ عَلَى ظَهْرِهِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْتِيَ رَجُلاً فَيَسْأَلَهُ أَعْطَاهُ أَوْ مَنَعَهُ» [صحيح البخاري (٢/ ١٢٣)]

سوکند په هغه ذات چي زما نفس د هغه په واک کي دی؛ که په تاسو کې یو څوک رسۍ واخلي او لرګي په خپل شا راوړي او ویې پلوري، هغه لپاره غوره ده چې یو داسې کس ته لاړ شي چې خدای تعالی ورته په خپل فضل سره مال ورکړی وي او له هغه څخه مرسته وغواړي، دا معلومه نه ده چې هغه ته به څه ورکړي یا نه.

ځینو علماوو د علم د فرضیت په اړه د رسول الله ﷺ د دې سپارښتنې په اړه ویلي دي: د علم له طلب څخه مراد هغه علم دی چې د حلال او حرامو توپیر وربانديې وشي. ځیني ناپوه او تمبل خلک چې د حق په لټه کې نه دي فکر کوي چې په نني عصر کي هیڅ حلال خواړه نه دي پاتې او حلال او حرام له هر څه نه پورته شوي دي. خو دا یو ناسم او جاهلانه خیال دی؛ ځکه چي حلال او حرام دوه جلا شیان دي:

«الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا أُمُورٌ مُشْتَبِهَةٌ» [صحيح البخاري (٣/ ٥٣)]

(حلال او حرام له یو بل څخه جلا دي او په منځ کې مشتبه او د پوښتنې وړ شیان شتون لري.) له مشتبه یا حرام خواړه څخه ډډه کول اړین دي. ځکه چې د مشکوکو او حرامو خوراکونو په خوړلو سره له انسان څخه د نیکو اعمالو توفیق سلب کیږي او د دې ډول خوړو ناوړه او بده اغېزه

د بدن په اعضاوو او رګونو کې خپرېږي.

رسول الله ﷺ د حلال د فضيلت په اړه فرمايي:

«من أكل الحلال أربعين يوما نور الله قلبه وأجرى ينابيع الحكمة من قلبه على لسانه ». [إحياء علوم الدين (٢/ ٨٩)]

(څوک چې څلوېښت ورځې خالص حلال خواړه وخوري، الله تعالى به يې زړه روښانه کړي، او د هغه له زړه څخه به يې ژبې ته د حکمت چينې رواني شي.) همدارنګه له حضرت عايشه رضی الله عنها څخه روايت دی چې: چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

«إن أطيب ما أكلتم من كسبكم». [ترمذي: ٢٨/٢]

(تر ټولو حلال شی چې تاسو يې خورئ، ستاسو د کسب (لاس) ګټه ده.)

سعدي شيرازي د زيار په اړه ليکي:

به رنج اندرست ای خردمند گنج
نيابد کسی گنج نابرده رنج
که اندر جهان سود بی‌رنج نيست
کسی را که کاهل بود گنج نيست

حضرت لقمان حکيم رحمة الله عليه خپل زوی ته داسې وصيت وکړ: له کسب او کار څخه لاس مه اخله! ځکه چې هرڅوک اړ شي، دين به يې تنګ شي، عقل به يې ضعيف شي، مروت به يې باطل شي او خلک به ورته په سپکه سترګه ګوري.

امام احمد رحمه الله له يوه سړي څخه چې تل په کور يا جومات کې ناست وو، د ګوښه کېناستلو لامل وپوښتل، هغه وويل: زه هيڅ کار نه کوم او الله تعالى ماته روزي رارسوي. امام رحمة الله عليه وفرمايل: دا سړی جاهل دی! رسول الله ﷺ فرمايلی دی:

جُعِلَ رِزْقِي تَحْتَ ظِلِّ رُمْحِي. [صحيح البخاري (٤/ ٤٠)]

(خدای جل جلاله زما روزي، زما د نيزې په څنډه کې ايښې ده.) يعني د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وينا د غنيمت او د رزق د ترلاسه کولو لپاره د هڅې په معنا ده.

نامشروع لارې:

ځينې مالونه په خپل ذات حرام دي لکه: هېګ، اهلي خر، شراب او داسې نور، يا د کوم دليل له مخې حرام شي لکه: کانونه، حيوانات او نباتات. او کله کله پر يو جنس باندې معامله کيږي چې ظاهري بڼه يې سمه وي، خو په حقيقت کې د يو ډول ظلم او خيانت له امله چې په هغه کې کارول شوې، عامل يې د خدای جل جلاله په غضب اخته کيږي او د دې ظلمونو او خيانتونو بعضې زيانونه عامو خلکو ته رسيږي لکه:

احتکار:

په دې مانا چې یو څوک د خلکو د ژوند د اړتیا وړ خوراکي توکي پټوي او په دې انتظار کې وي چې نایاب شي او بیه یې لوړه شي او بیا یې په ډېره لوړه بیه وپلوري. دا عمل یو ډول ظلم او ټولنیز خیانت دی. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«مَنِ احْتَكَرَ فَهُوَ خَاطِئٌ». [صحيح مسلم للنيسابوري (٥/ ٥٦)]

د توکو عیب پټول:

داسې چې تاجر د خپل مال عیب پټ کړي او له عیب سره سره یې په مشتري وپلوري.

نامتعادله وزن او پیمانه:

د راکړې ورکړې پر مهال توکي په درانه وزن او پوره اندازه پېرل او په کم وزن خرڅول. خدای جل جلاله دا ډله ملامتوي او وایي:

وَيۡلٞ لِّلۡمُطَفِّفِينَ ۝١ ٱلَّذِينَ إِذَا ٱكۡتَالُواْ عَلَى ٱلنَّاسِ يَسۡتَوۡفُونَ ۝٢ وَإِذَا كَالُوهُمۡ أَو وَّزَنُوهُمۡ يُخۡسِرُونَ ۝٣

(سورة مطففين)

په تله او ترازو کې د کم ورکونکو لپاره تباهي ده. د هغو حال داسې دی چې کله له خلکو څخه په پیمانه څه اخلي، نو پوره پوره یې اخلي. او کله چې هغو ته په پیمانه یا تله څه ورکوي، نو کم یې ورکوي.

له ورځني نرخ څخه تېری:

تاجر باید د مال پېر او پلور په مناسبه ورځنۍ بیه وکړي، که نه نو د عامو خلکو په وړاندې یو ډول ظلم او خیانت شوی دی. دا د هغو ظلمونو او خیانتونو بېلګې دي چې خلک ترې رنځ وړي او نن ورځ د وخت په تېرېدو سره په مالونو کې تر دې هم زیات چلونه او خیانتونه شته چې په دغو کې شامل دي.

د مشروع کسب لارې چارې:

د سالمې سوداګرۍ او اقتصاد او د مشروع عایداتو د لاسته راوړلو لپاره اسلام د ټولنې وګړو لپاره ډېرې لارې چارې وړاندې کوي؛ تر څو هر څوک د خپل زیار، استعداد او فعالیت له مخې ترې ګټه پورته کړي.

امام شاه ولي الله دهلوي رحمه الله په خپل ارزښتناک کتاب "حجة الله البلاغه" کې د مشروع عاید ترلاسه کولو لارې چارې په دوو اصلي او فرعي برخو وېشلې دي.

اصلي لارې: ۱ کرنه، ۲ د څارویو پالنه، ۳ د دښتو او بحرونو څخه د حلالو شیانو او توکو راټولول، ٤ صنعت.

خو ډېرې فرعي لارې شته چې یوازې د یو څو

ذکر کول یې کافي دي:۱ تجارت، ۲ ماموریت او کارمندي، ۳ په ټولنه کې د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د مختلفو خدماتو وړاندې کول، ٤ هغه لارې چې د بشر هوساینه او آرامتیا برابروي [حجة الله البالغة (۱۳۳/۱)]

ښکاره خبره ده چې سوداګري د روزۍ ګټلو، ټولنې ته د خدمتونو د وړاندې کولو او د بازار د سوکاله ساتلو لپاره یوه وسیله ده.

زمخشري رحمه الله فرمایي: ښکاره خبره ده چې له تولید وروسته باید صنعتي او کرنیز توکي خلکو ته ورسول شي او په منځ کې یې تبادله شي او دا کار یوازې د تجارت له لارې ممکن دی. او تجارت په اسلام کې ځانګړی اهمیت لري، داسې چې د ټولنیز ژوند یو له لازمي اړتیاو څخه دی او اسلام یې د عاید د یوې مشروع او مباحې سرچینې په توګه ځای په ځای کړی دی.

خو هغه کسب او تجارت د خدای جل جلاله خوښه ده چې د اسلامي شریعت له احکامو سره سم وي. خدای جل جلاله فرمایلي دي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ ۚ وَلَا تَقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا (نساء: ۲۹)

اې مؤمنانو! په خپلو منځو کښې یو د بل مالونه په ناروا توګه مه خورئ، مګر (خورئ یې) که راکړه ورکړه د دواړو خواو په خوښې سره (په روا توګه) وي، او خپل ځانونه مه وژنئ. باور ولرئ چې الله پر تاسي مهربان دی.

مسلمان لره ښایي چې د صالحو اسلافو څخه زده کړې. هغوی کله به چې په خپلو ورځنیو کارونو بوخت شول، نو د فرض لمانځه د ادا کولو لپاره به جوماتونو ته تلل. هرکله چې به یې د لمانځه اذان واورید، نو خپل دنیوي کاروبار به یې بند کړ. حتی ځینو به چې کله اذان واوریده، پورته کړی څټک به یې نه ښکته کول او یو طرف ته به یې کیښود او جومات ته به لاړل.

اسلام مال او دولت ته هغه وخت درناوی کوي، چې له ذلت څخه د انسان د عزت او کرامت د ساتنې او د ټولنې د پرمختګ او هوساینې او د دښمنانو له برید څخه د دین او ایمان د دفاع وسیله وي؛ نه دا چې انسان د عبادت کولو او د آخرت توښې د لاسته راوړلو څخه منع کړي.

له حضرت علي رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

إن الله يحب ان يرى عبده يسعى فى طلب الحلال.

[دیلمی (۳٦۳/۲)]

(خدای تعالی دا خوښوي چې خپل بنده د حلال په لټه کې ویني.) په بل حدیث کې راغلي:

أَنّ النَّبِيَّ ﷺ سُئِلَ أَيُّ الْكَسْبِ أَطْيَبُ ؟ قَالَ : عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهِ، وَكُلُّ بَيْعٍ مَبْرُورٍ» [مسند البزار (٢/ ٥٥)]

(نبی کریم ﷺ د تر ټولو پاک کسب په اړه وپوښتل شو؟ هغه ﷺ وفرمایل: تر ټولو ښه او تر ټولو حلال مال د یو سړي د خپل لاس او عمل په وسیله مال ترلاسه کول دی او همدارنګه هر هغه معامله چې له حرامو څخه پاکه وي.) څومره بختور دي هغه کسان چې د اسلام د ګران پیغمبر صلی الله علیه وسلم په دې حکم عمل کوي او د هغه په سنتو او احکامو ځان سینګاروي.

د حلال او حرام د لاسته ته راوړلو اغیزې:

د حلال خوراک په خوړلو سره د ایمان رڼا راښکاره کیږي او د ښو اخلاقو د حاصلولو شوق پیدا کیږي او د عبادت په وخت کې انسان د سکون احساس کوي، زړه یې له ګناه څخه لړزیږي او دعاګانې یې د خدای په نزد قبلیږي.

سهل تستري رحمة الله علیه فرمایي:

د ایمان او عبادت خوند په څلورو شیانو محسوسیږي؛ د سنتو مطابق د فرایضو ادا کول، حلال خواړه خوړل، د ظاهر او باطن له منهیاتو څخه ډډه کول، او تر مرګه پورې په همدغو شیانو صبر کول. [احیاءالعلوم (٩١/٢)]

همدارنګه د حرامو خوراکونو له خوړلو څخه د انسان په اخلاقو کې داسې رذایل رامنځته کیږي چې له هغه وروسته د عبادت خوند له منځه ځي او دعا نه قبلیږي. لکه څنګه چې د اسلام ګران پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: (ډیری پریشان حاله خلک آسمان ته لاسونه پورته کوي او دعا کوي او یارب یارب وايي: خو څرنګه چې د دوی خوراک، څښاک او جامې حرامې دي نو په داسې حالت کې به دعا څنګه قبول شي) [مسلم (٧٠٣/٢)]

مورخینو لیکلي دي: په کوفه ښار کې داسې خلک وو چې دعا به یې قبول کېده، کله به چې کوم ظالم حاکم پر دوی مسلط شو، نو د هغه پر ضد به یې دعا کوله او هغه به له منځه تلل. کله چې مشهور ظالم حجاج بن یوسف پر دوی واکمن شو، دوی یې د یوه خصوصي بلنې لپاره راغونډ کړل، کله چې دوی ډوډۍ وخوړه، حجاج وویل: زه د دې ډلې د بد دعا له خطره وژغورل شوم. ځکه چې همدا اوس حرام خواړه د دوی خېټې ته ننوتل.

کله چې د نیکي ځای بدي ونیسي او د فساد تله درنه شي او دعاګانې قبوله نه شي، پایله کې به د یوې فاسدې او بې رونقه ټولنې شاهدان یو. له همدې امله د وضعیت د ارزونې او تامین لپاره باید، خپل خواړه ته زیر شو.

(پاتې پر ٤٢ مخ...)

ترتیب او تدوین: نویدالحسن یوسفزی

په ۲۰۲۵ز کال کې د عمر میډیا د ترسره کړیو فعالیتونو کلنی راپور!

لکه څنګه چې تاسو ټولو ته معلومه ده، چې عمر مېډیا د تحریک طالبان پاکستان له مهمو بنسټیزو او اغېزناکو څانګو څخه یوه ده. دا اداره شپه او ورځ په پوره اخلاص، فولادي هوډ او کاري ژمنتیا سره د پاکستان مؤمن او غیور ولس او ګرانو هېوادوالو ته د جهادي محاذونو څخه د روانو بریمنو جهادي سوبو او ګړندیو عملیاتو تازه خبرونه، فکري او نظریاتي خپروني، جهادي سفرنامې، د جهادي عملیاتو لنډ ویډیویي راپورونه او مستند اصدارات، په اردو او پښتو ژبو آډیویي ترانې، راډیویي پروګرامونه، مجلې، د ناپاک پوځ او اجیر ریاست د ظلمونو انځوریز راپورونه او د سیاست د بدلېدونکې فضا ژور تحلیلونه وړاندې کوي.

په ۲۰۲۵ز کال کې، د الله جل جلاله په ځانګړي فضل او نصرت، د عمر مېډیا فعالیت تر پخوا څو چنده پیاوړی، اغېزناک او منظم و، او د دین او وطن د دښمنانو او اجیر ریاست لپاره د سختې اندېښنې سبب او درديسر وګرځېد؛ چې دا حقیقت هغوی پخپله هم په خپلو کنفرانسونو او بېلابېلو څرګندونو کې په ښکاره توګه منلی دی.

د تحریک طالبان پاکستان اعلامي کمېسیون د همدې کال په اوږدو کې ټولټال ۱۱۵ رسمي اعلامیې خپرې کړې. دغه اعلامیې د هېواد دننه او بهر د مهمو پېښو، تعزیتي پیغامونو، او تردیدي او تصدیقي دریځونو انعکاس و، چې په ډېر مسؤولانه او سنجول شوي انداز وړاندې شول. د همدې هڅو په پایله کې د مجاهدینو او ولس ترمنځ اړیکې لا ټینګې او د باور فضا نوره هم پیاوړې شوه.

همدارنګه، عمر مېډیا د ۲۰۲۵ز کال په ترڅ کې له ۱۱۵ څخه ډېرې ویډیوګانې د بېلابېلو موضوعاتو تر سرلیکونو لاندې خپرې کړې. د دغو ویډیوګانو شاوخوا دریمه برخه جګړهییزه وه، او پاتې نورې یې د روانو حالاتو، د یتیمانو د ځانګې، دعوتي پیغامونو او د دولتي ظلمونو او غیر شرعي پالیسیو د افشا کولو په اړه وې.

په همدې موده کې د آډیویي ترانو ۱۴ البومونه هم خپاره شول، چې پکې په پښتو، اردو او بلوچي ژبو زړه راښکونکي، معنوي او احساس راپارونکي

کلامونه شامل وو.

د چاپي فعالیتونو په برخه کې، په ۲۰۲۵ز کال کې ټولې ۱۷ مجلې خپرې شوې: پنځه د «مجلۀ طالبان»، څلور د «صدای طالبان» په پښتو ژبه، دري د «مجلۀ طالبان» په فارسي، څلور د «بنات خدیجة الکبری» او یوه ځانګړې ځانګړی ګڼه. دغو مجلو د څېړنیزو مقالو، د روانو حالاتو د ژورو تحلیلونو، اسلامي او جهادي موضوعاتو او فکري لیکنو له لارې د لوستونکو فکري تنده خړوبه کړه، شعور او پوهاوی یې لوړ کړ او پراخه هرکلی یې ترلاسه کړ.

د یادونې وړ ده چې، پورته شمېرې یوازې د عمر مېډیا د رسمي چېنلونو له لارې د خپرو شویو موادو احصائیه ده. په دې سربېره، د ټولنیزو رسنیو فعال ټیم په غیر رسمي پلېټفارمونو کې هم پراخ فعالیت درلود، چې پکې له ۱۰۰ څخه زیاتې ویډیوګانې، تر ۲۰ پورې د آډیویي ترانو البومونه، بېلابېل ویډیویي راپورونه، انځوریز البومونه او نور ګڼ شمیر مواد شامل دي.

عمر مېډیا یو ځل بیا په کلکه دا ژمنه او عزم تکراروي چې په راتلونکي کې به لا منظم، معیاري او اغېزناک فعالیت ترسره کوي، د مجاهدینو د حوصلې د لوړولو لپاره به نه ستړې کېدونکې هڅې کوي، د مخالف لوري او اجیر ریاست پر وړاندې به فکري او رسنیز دریځ لا پیاوړی ساتي او د دعوت میدان به همداسې تازه، خوځنده او ژوندی ساتي. د ۲۰۲٦ز کال په ترځ کې به د عمر مېډیا لیدونکي او لوستونکي لا غوره، ژور او ارزښتناک مواد د لوستلو او لیدلو لپاره ومومي، ان شاءالله العزیز.

پاتې: د حلال رزق ګټل...

د هر انسان عقلي وده او بصیرت د هغه په تغذیه پورې اړه لري او تر څو چې بنده خپل رزق ته توجه ونه کړي او له حرامو څخه یې د جلا کولو هڅه ونه کړي، نشي کولی خپل رب او معبود وپېژني او خپل د دنیا او آخرت اهداف تر لاسته کړي. نو کار او کوښښ ته اهمیت ورکول او حق له باطلو لارو او د هغو د اغیزو توپیر، د ټولنې د هر غړي دنده ده. تر څو یوه ماډرن، متمدن، دیني او پاکه ټولنه ولرو. وما ذلك على الله بعزيز

جمع او ترتیب: عثمان قریشي

په ۲۰۲۵ز کال کې د تحریک طالبان پاکستان د فعالیتونو هراړخیز راپور

د ۲۰۲۵ز کال (۱۴۴٦–۱۴۴۷هـق) په اوږدو کې د تحریک طالبان پاکستان له لوري ټولټال ۳۵۷۳ عملیات ثبت شوي دي. دا شمېرې نه یوازې د کمیت له پلوه بې‌ساري دي، بلکې د عملیاتو جغرافیایي پراخوالی، ډولونه او اغېزې یې هم د پام وړ او غیر معمولي بڼه لري.

کال د جنورۍ په میاشت کې له ۱۱۹ عملیاتو سره پیل شو او په فبرورۍ کې دا شمېر ۱۴۷ ته ورسېد. د مارچ په میاشت کې ناڅاپي زیاتوالی راغی او ۲٦۰ عملیات ثبت شول، په داسې حال کې چې د اپرېل په میاشت کې د بریدونو شمېر ۲۱٦ و.

په مې میاشت کې ۳۲۷، په جون کې ۳۰۷، په جولای کې ۳٦۰او د ۲۰۲۵ز کال تر ټولو خونړۍ میاشت اګست وه، چې پکې ۵۵٦ عملیات ترسره شول. له دې وروسته، په سپټمبر کې ۳۵۹، په اکتوبر کې ۳۴۹، په نومبر کې ۳۰۲ او په دسمبر کې ۲۷۱ عملیات ثبت شول.

سیمه‌ییز ارقام څرګندوي چې د عملیاتو اصلي مرکزونه لا هم پخوانۍ قبایلي سیمې پاتې شوي دي.

په جنوبي وزیرستان کې تر ټولو زیات، یعنې ۸۱۹ عملیات ترسره شوي، ورپسې شمالي وزیرستان کې (۵۸۸) او خیبر (۳۸۱) کې ځای لري.

نورې سیمې عبارت دي له: باجوړ (۲۹۳)، چترال (۲۴۴)، ټانک (۲۴۲)، بنوں (۱۹۹)او ډېره اسماعیل خان (۱۹۸). همدارنګه لکي مروت (۱۱۷)، کرم (۱۰۵)، مهمند (۵٦)، کوز دیر (۵۴)، پېښور (۵۳)، اورکزی (۳۸)، جنوبي پنجاب (۳٦)، کرک (۱۸)، مکران (۱۴)، بر دیر (۱۳)، سوات (۱۲) او بنېر (۱۲) هم د پام وړ شمېرې لري.

په همدې ډول، په کراچۍ، صوابۍ او کوهاټ هر یو کې ۱۰ – ۱۰ عملیات ثبت شوي، مردان (۹)، ملاکنډ (۸)، شانګله (۷)، ګلګت بلتستان (٦)، کوټه (۵)، ژوب (۴) او په قلعه سیف‌الله، قلات او بونیر هر یو کې ۳ – ۳ پېښې راپور شوې دي.

سربېره پر دې، په هزاره ډویژن، شمالي پنجاب او د نوښهرو فیروز ولسوالۍ کې د یو – یو عملیات ثبتېدل دا څرګندوي چې د فعالیتونو لمن د هېواد نږدې هرې سیمې ته غځېدلې وه.

د عملیاتو د نوعیت له مخې، تر ټولو ډېر سنایپر او لېزري بریدونه (۱۲۸۰) ترسره شوي، چې د ټولو عملیاتو تر ټولو ستره برخه جوړوي.

له دې وروسته چریکي بریدونه (۹۵۰)، کمینونه (۳۳۶) او لاسي بمغورځونې او چاودنې (۳۰۱) شاملې دي.

په ۲۰۲۵ز کال کې همدارنګه ۲۶۰ تعرضي بریدونه، ۱۷۴ هدفي عملیات او ۱۵۷ ځوابي بریدونه ثبت شوي، په داسې حال کې چې ۱۱۰ توغندیز بریدونه او ۵ استشهادي عملیات هم ترسره شوي دي.

د شته شمېرو له مخې، د مقابل لوري ټولټال ۳۴۸۱ تنه عسکر او امنیتي کارکوونکي وژل شوي او ۳۸۱۸ تنه ټپیان شوي دي، چې په دې توګه د وژل شویو او ټپیانو مجموعي شمېر ۷۲۹۹ کسانو ته رسېږي.

په همدې موده کې ۱۹۶ نیونې هم شوې دي، چې د بېلابېلو عملیاتو پر مهال ترسره شوې دي.

د زیانمنو شویو ادارو له ډلې، تر ټولو زیات زیان پوځ او ایس‌ایس‌جي ته اوښتی، چې پکې ۳۸۶۷ تنه په نښه شوي دي. وروسته فرنټیر کور (۱۸۹۹)، پولیس او سي‌ټي‌ډي (۱۴۰۵) او استخباراتي اداري او امن کمېټې (۲۰۱) شاملې دي.

د معلوماتو له مخې، ۶۰۷ ډرونونه او سي‌سي‌ټي‌وي کمرې، ۴۵۷ وسایط، ټانکونه او موټرسایکلونه، ۹۲ د اوبو او برېښنا سیستمونه او ۸۳ پوځي تاسیسات په نښه شوي دي.

همدارنګه ۲۹ د انټرنېټ او ډش سیستمونه، ۱۴ بېلابېلې وسلې، ۳ د خوراکي توکو ډیپوګانې او ۲ د وسلو زېرمې هم ویجاړې یا زیانمنې شوې دي.

د عملیاتو پر مهال د مقابل لوري څخه د پام وړ اندازه پوځي تجهیزات هم ترلاسه شوي دي. په دې کې ۲۰۴ بېلابېل ټوپکونه، ۱۰۷ د هاوان او راکټ مرمۍ، ۲۵ وسایط، ۱۴ تومانچې، ۱۲ مخابرې او موبایلونه، ۱۰ ډرونونه، ۹ شپنې لېزر دوربینونه، ۷ موټرسایکلونه او ۶ ایل‌ایم‌جي/ ایم‌جي ون/پیکاوې شاملې دي. سربېره پر دې، زرګونه مرمۍ، لسګونه لاسي بمونه، شاجورونه او نور پوځي تجهیزات هم تر لاسه شوي دي.

دغه ارقام په ډاګه کوي چې د ۲۰۲۵ز کال په اوږدو کې د تحریکِ تحفظِ پاکستان فعالیتونه نه یوازې د شمېر له پلوه پراخ وو، بلکې د جغرافیایي پراخوالي، نوعیت او اغېزو له اړخه یې هم بې‌ساری انځور وړاندې کړ.

الله تعالی دې د اسلام د لارې مجاهدینو ته لا نورې بریاوې او سوبې ورپه برخه کړي. آمین.

جمع او ترتیب: عثمان قریشي

د ۲۰۲٦م (۱۴۴۷-۱۴۴۸ هـ ـ ق) کال لپاره د تحریک طالبان پاکستان تشکیلات

د زونونو نظامي کمېسیونونه:

د شمالي زون (ملاکنډ ډویژن، مردان ډویژن، هزاره ډویژن، باجوړ، گلگت بلتستان، کشمیر) نظامي کمېسیون:

رئیس: محترم موسی کلیم صاحب

معاون: محترم ډاکټر برهان صاحب

اداري مسئول: محترم مولوي ثاقب محسود صا حب

د کمېسیون غړي: محترم مفتي سجاد صاحب، محترم مولوي صبغت الله صاحب، محترم حافظ اسد الله صاحب، محترم عاصم مردانوي صاحب

د منځني زون (پېښور، نوښار، چارسدې، خیبر، مومند، کوهاټ، اورکزي، کرم، هنگو او شمالي پنجاب) نظامي کمېسیون:

رئیس: محترم مولوي سیف الله حقاني صاحب

معاون: محترم هلال غازي صاحب

اداري مسئول: محترم قاري اعجاز آفریدي صا حب

د کمېسیون غړي: محترم حمزه منصور صاحب، محترم مولوي صابر صاحب، محترم قاري زکریا صاحب، محترم حاجي عنبرخېل صاحب، محترم مولوي عبدالسلام اورکزی صاحب، محترم حاجي کمال صاحب

د جنوبي زون (بنو، کرک، ټانک، ډېره اسماعیل خان، لکي مروت، شمالي وزیرستان، جنوبي وزیرستان، جنوبي پنجاب، کراچۍ اندرونِ سِند) نظامي کمېسیون:

رئیس: محترم حافظ احسان الله ایپي صاحب

معاون: محترم مولوي صابر محسود صاحب

اداري مسئول: محترم مولوي ابو عثمان صاحب

د کمېسیون غړي: محترم قاري شفیق بنوي صاحب ، محترم مولوي مستغفر مروت صاحب، محترم مولوي داؤد بیټني صاحب، محترم مولوي الیاس گنډاپور صاحب، محترم مولوي ذوالفقار وزیر صاحب

د غربي زون (بلوچستان) نظامي کمېسیون:

رئیس: محترم مزار بلوچ صاحب

معاون: محترم مولوي حنظله صاحب

اداري مسئول: محترم مولوي خالد صاحب

د کمېسيون غړي: محترم عمر بلوچ صاحب، محترم حسين لالا صاحب، محترم حمزه صاحب

مرکزي نظامي قطعات:

د شمالي زون مسئول: محترم مولانا قاري کاروان صاحب

د منځني زون مسئول: محترم هلال غازي صاحب

د جنوبي زون مسئول: محترم حاجي محمد حسين صاحب

د غربي زون مسئول: محترم مولوي مخلص صا حب

د سياسي چارو کمېسيون:

عمومي رئيس: محترم مولوي عظمت الله صاحب

د کمېسيون غړي: محترم مولوي فقير محمد صاحب، محترم قاضي محمد امير صاحب، محترم غازي غزوان صاحب، محترم مولوي سيد احمد وزير صاحب

د استخباراتو عمومي رياست:

عمومي رئيس: محترم مولوي اسد صاحب

د استخباراتي کمېسيون غړي: محترم مولوي اسد صاحب، محترم مولوي سليم صاحب، محترم مفتي طارق صاحب، محترم ساجد صاحب

د بهرني کشف مسؤل: محترم قاري صابر شاه صا حب

د داخلي امنيت مسؤل: محترم مولوي نور الله صا حب

د جاسوسۍ ضد مسؤل: محترم سلمان صاحب

د اقتصادي چارو کمېسيون:

عمومي رئيس: محترم ضرار گنداپور صاحب

اداري مسئول: محترم مولوي عبدالصمد صاحب

مالي مسؤل: محترم قاري عرفان آفريدي صاحب

د عمومي رئيس معاونين:

د شمالي زون لېاره: محترم بلال ديروي صاحب

د منځني زون لپاره: محترم کاشف منصور صاحب

د جنوبي او غربي زون لپاره: محترم عاجز محسود صاحب

د فلاح او بهبود رياست:

عمومي رئيس: محترم قاري شاه خالد صاحب

د ولاياتو د فلاحي چارو مسؤلين:

د باجوړ ولايت لپاره: محترم مولوي فداء صاحب

د سوات ولايت لپاره: محترم مولوي اسامه صاحب

د بنو ولايت لپاره: محترم شريعتي مولوي صاحب

د معارف کمېسیون:

عمومي رئیس: محترم مفتي ابو هریره اتمانخېل صا حب

د عمومي مسؤل معاونین:

د شمالي زون لپاره: محترم مولوي معاذ صاحب

د منځني زون لپاره: محترم مولوي محمد آفریدي صاحب

د جنوبي زون لپاره: محترم مولوي اعتمادي وزیر صاحب

د غربي زون لپاره: محترم مولوي عادل صاحب

د ولایاتو د معارف رئیسان:

د جنوبي وزیرستان لپاره: محترم مولوي کاشف صا حب

د شمالي وزیرستان لپاره: محترم مولوي شاکر صا حب

د ډېره اسماعیل خان لپاره: محترم مولوي سنګر صا حب

د بنو لپاره: محترم قاري معاویه صاحب

د لکي مروت لپاره: محترم مولوي محمد صاحب

د دعوت او ارشاد کمېسیون:

عمومي رئیس: محترم قاري ابو حماد باجوړي صا حب

د عمومي رئیس معاونین:

د شمالي زون لپاره: محترم مولوي یاسر صاحب

د منځني زون لپاره: محترم مولانا یوسف کوهاټوال صاحب

د جنوبي زون لپاره: محترم مولوي رسول جان صا حب

د غربي زون لپاره: محترم مفتي بشیر صاحب

د ولایاتو د دعوت او ارشاد رئیسان:

د بر دیر، کوز دیر او چترال ولایتونو لپاره: محترم مفتي اویس صاحب

د باجوړ، بونیر، ملاکنډ ولایتونو لپاره: محترم مولوي خلیل صاحب

د هزاره، شانګلې او سوات ولایتونو لپاره: محترم قاري کاروان صاحب

د مردان او صوابۍ ولایتونو لپاره: محترم مولوي احسان الله صاحب

د پېښور او مومندو ولایتونو لپاره: محترم قاري سعید صاحب

د نوښار، خیبر، کرم، اورکزي او کوهاټ ولایتونو لپاره: محترم مولوي حسین احمد صاحب

د بنو او ډېره اسماعیل خان ولایتونو لپاره: محترم مولوي نصرت وزیر صاحب

د شمالي وزیرستان ولایت لپاره: محترم مولوي ابرار صاحب

د جنوبي وزیرستان ولایت لپاره: محترم مولوي حامد صاحب

د ژوب ولایت لپاره: محترم مولوي عادل صاحب

اعلامي کمېسیون:

رئیس: محترم مفتي غفران صاحب

د اعلامي کمېسیون غړي: محترم مولانا قاري محمد شعیب صاحب، محترم شیخ عبدالرحمن حماد صاحب، محترم مفتي طارق صاحب، محترم قاضي محمد امیر صاحب، محترم چوهدري منیب الرحمن جټ صاحب، محترم نوید مکرم صاحب، محترم محمدي داوړ صاحب

د رسنیو (میډیا) مسئول: محترم چوهدري منیب الرحمن جټ صاحب

د احتساب کمېسیون:

عمومي رئیس: محترم استاد حنیف فاروقي صا حب

د احتسابي کمېسیون غړي: محترم ارسلان صاحب، محترم طلحه آفریدي صاحب، محترم حاجي فیاض صاحب، محترم شیخ ابو یحیی صاحب، محترم مولوي ثاقب اسلام صاحب دیروي، محترم مولوي مدثر گلستاني صاحب

د ځانګړي استشهادي ځواک کنډک:

مسئول: محترم مولوي مخلص صاحب

د استشهادي ځواک کمېټې غړي: محترم حافظ علي داوړ صاحب، محترم چوهدري منیب الرحمن جټ صاحب

د الفاروق مرکزي معسکر:

د شمالي زون مسئول: محترم استاد سمندر صاحب

د منځني زون مسئول: محترم قاري عبدالله «زلزله» صاحب

د جنوبي زون مسئول: محترم حمزه سندهي صا حب

د غربي زون مسئول: محترم مولوي مدثر گلستاني صاحب

قضاء (محاکم)

د تمیز محکمه:

رئیس: محترم قاضي مفتي کاشف صاحب

د محکمې غړي: محترم قاضي مفتي ارشد اقبال صاحب، محترم قاضي مفتي طاهر محمود صاحب، محترم قاضي عبدالحکیم صدیقي

صا حب

د مرافعې محکمه (جنوبي زون):

رئیس: محترم قاضي محمد امیر صاحب

د مرافعې محکمه (شمالي زون):

رئیس: محترم قاضي عبدالحلیم صاحب

معاون: محترم مولانا طفیل صاحب

محرر: محترم مولوي ابوبکر صاحب

د جنوبي زون لومړی ابتدائیه محکمه:

رئیس: محترم قاضي مفتي عباس صاحب

معاونین: محترم مفتي شفیق صاحب، محترم مولانا حنظله صاحب

د جنوبي زون دوهمه ابتدائیه محکمه:

رئیس: محترم قاضي مولانا ابو ذکوان صاحب

معاون: محترم قاضي مولوي بلال صاحب

د شمالي زون لومړی ابتدائیه محکمه:

رئیس: محترم قاضي شیخ خالد صاحب

معاونین: محترم قاضي مفتي هارون صاحب، محترم مفتي سعد صاحب

محرر: محترم مولوي اسدالله صاحب

د شمالي زون دوهمه ابتدائیه محکمه:

رئیس: محترم قاضي مولانا ترابي صاحب

معاونین: محترم قاضي مولوي معاویه صاحب، محترم قاضي سعد صاحب

د جنوبي زون احتسابي محکمه:

رئیس: محترم قاضي عبدالرحمن محسود صاحب

معاون: محترم مفتي هشام صاحب

دارالافتاء:

رئیس: محترم مفتي عبد الرحمن نظامي صاحب

د دارالافتاء غړي: محترم مفتي ندیم خان درویش صاحب، محترم مفتي هشام صاحب، محترم مفتي منصور صاحب، محترم مفتي عباس صاحب

د بارودي موادو او انفجاراتو څانګه:

عمومي رئیس: محترم استاد اکرام هزاروي صاحب

د شمالي زون مسؤل: محترم عمر مجاهد صاحب

د شمالي زون معاون: محترم وقار صاحب

د منځني زون رئیس: مولوي صفدر آفریدي صا حب

د جنوبي زون مسؤل: مولوي جاوید مروت صا حب

د غربي زون مسؤل: محترم استاد جاوید صاحب

هوایي ځواک:

عمومي مسئول: محترم مولوي سليم حقاني صا حب

د الکترونيک او ورکشاپ څانګه:

مسئول: محترم حمزه صاحب

مجموعة التنفيذ:

د شمالي زون مسئول: محترم جنتي صاحب

د جنوبي زون مسئول: محترم سيف الله صاحب

د (پرنټينګ) چاپي خونې مسئول: محترم اجمل صاحب

د تعميراتي څانګې مسئول: محترم عارف صاحب

د شمالي زون د ولايتونو تشکيل

۱) د باجوړ ولايت:

والي: محترم مولوي محمد طاهر صاحب

د والي معاون: محترم بلال صاحب

د ولايتي کمېسيون غړي: محترم مولوي ملنګ باچا صاحب، محترم ابراهيم خورا صاحب، محترم مولوي رفيق صاحب، محترم وقار صاحب، محترم بلال صاحب، محترم مفتي عاصم صاحب، محترم زابل صاحب، محترم قاري عمر صاحب، محترم روحاني صاحب، محترم حبيب صاحب، محترم عبدالله سالارزی صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم ګلاب ګل صا حب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم مبارک صاحب

د قطعې مسئول: محترم مولانا ملنګ باچا صاحب

۲) د سوات ولايت:

والي: محترم استاد انقلابي صاحب

د والي معاون: محترم احسان استاد صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم عباس صاحب، محترم يعقوب صاحب، محترم مولوي جميل صاحب، محترم زمران استاد صاحب، محترم خاکسار صاحب، محترم مصطفیٰ صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم سهيل صاحب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم سجاد باجوړي صا حب

د قطعې مسئول: محترم احمد صاحب

۳) د ملاکنډ ولايت:

والي: محترم استاد ذاکر صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم ابوبکر صاحب، محترم بابو جان صاحب، محترم حذيفه صاحب، محترم حکيم صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم مصطفی

صا حب

ولایتي اقتصادي رئیس: محترم حذیفه صاحب

۴) د بر دیر ولایت:

والي: محترم مولوي خالد صاحب

ولایتي کمېسیون: محترم مفتي ابرار صاحب، محترم زید صاحب، محترم قاسم صاحب

ولایتي استخباراتي رئیس: محترم مولوي زبیر صا حب

ولایتي اقتصادي رئیس: محترم عارف صاحب

۵) د کوز دیر ولایت:

والي: محترم مولوي صبغت الله صاحب

ولایتي کمېسیون: محترم ضرار صاحب، محترم طارق صاحب، محترم صفوان صاحب، محترم یاسین صاحب

ولایتي استخباراتي رئیس: محترم طارق صاحب

ولایتي اقتصادي رئیس: محترم بابر علي صاحب

د قطعي مسئول: محترم مولوي عبدالله صاحب

٦) د صوابی ولایت:

والي: محترم مفتي طاهر صاحب

ولایتي کمېسیون: محترم قاضي اسد الله صاحب، محترم عباس صاحب، محترم عادل صاحب

ولایتي استخباراتي رئیس: محترم قاري سعید صا حب

ولایتي اقتصادي رئیس: محترم عثمان صاحب

۷) د مردان ولایت:

والي: محترم مولانا عبدالحمید حماسي صاحب

ولایتي کمېسیون: محترم مولوي یوسف صاحب، محترم آفتاب صاحب، محترم ساحل صاحب، محترم مسلم صاحب

ولایتي استخباراتي رئیس: محترم قاري عاصم صا حب

ولایتي اقتصادي رئیس: محترم علي حیدر استاد صاحب

۸) د شانګلې ولایت:

والي: محترم قاري اسد الله صاحب

ولایتي کمېسیون: محترم مولانا جمال صاحب، محترم خوګ باچا صاحب، محترم ندیم کاکا صاحب، محترم ایوب استاد صاحب

ولایتي استخباراتي رئیس: محترم مولانا جواد صا حب

ولایتي اقتصادي رئیس: محترم ایوب استاد صا حب

۹) د هزاره ولایت:

والي: محترم مولوي ياسر صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم فرمان صاحب، محترم نور الله صاحب، محترم مولانا شاهين صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم مفتي بسام صا حب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم مولوي شاهين صا حب

۱۰) د بونير ولايت:

والي: محترم ابو سلطان صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم فياض صاحب، محترم مولوي خالد صاحب، محترم مفتي ابرار صاحب، محترم عباس صاحب، محترم عبدالله صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم عمر صاحب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم سيف الله صاحب (متوال)

د قطعې مسئول: محترم مفتي سجاد صاحب

۱۱) د چترال ولايت:

والي: محترم جګر صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم طارق صاحب، محترم رحمدل صاحب، محترم عمر کاکا صاحب، محترم معاويه صاحب، محترم سربند صاحب، محترم قاري داؤد صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم طارق منصور صاحب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم عرفان صاحب

۱۲) د کشمير ولايت:

والي: محترم ډاکټر احمد کشميري صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم ډاکټر صاحب، محترم ياسر صاحب

۱۳) د ګلګت ديامر ولايت:

والي: مولانا عبدالحميد صاحب

ولايتي اقتصادي رئيس: مولوي امير حمزه صاحب

۱۴) د ګلګت داريل ولايت:

والي: محترم مولوي حبيب الرحمن صاحب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم مولانا محمود الحقصاحب

د منځني زون د ولايتونو تشکيل

۱) د پېښور ولايت:

والي: محترم خالد منصور صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم زرشاد صاحب، محترم کامران حاجي صاحب، محترم صابر شاه صاحب، محترم مولوي اسامه صاحب، محترم قاري سعيد صاحب، محترم عالمزيب پهلوان صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: مولوي صابر شاه صا حب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم مفتي منصور حقاني صاحب

د پېښور او کوهاټ د قطعې مسئول: محترم ضرار صاحب

۲) د خيبر ولايت:

والي: محترم ابراهيم عثماني صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم لونگ صاحب، محترم آصف صاحب، محترم اسامه حاجي گل صاحب، محترم گل آمين صاحب، محترم شير زمان صاحب، محترم قاري ياسين صاحب، محترم عمر بدر صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم قاري هجرت صاحب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم آصف آفريدی صاحب

د قطعې مسئول: محترم ابوذر فدايي صاحب

د قطعې معاون: محترم گل‌شېر صاحب

۳) د کوهاټ ولايت:

والي: محترم مولوي صفدر صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم اسرافيل صاحب، محترم مولوي درويش صاحب، محترم سعد صاحب، محترم حذيفه صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم منصور صاحب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم کاشف صاحب

د پېښور او کوهاټ د قطعې مسئول: محترم ضرار صاحب

۴) د مومندو ولايت:

والي: محترم عثماني صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم مولوي اکرام الله ترابي صاحب، محترم عبدالرحمن صاحب، محترم قاري مدرار صاحب، محترم حنظله صاحب، محترم مولوي گل محمد صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم قاري مدرار صا حب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم قمر شاهين صا حب

د قطعې مسئول: محترم استاد ابو خباب صاحب

۵) د چارسدې ولايت:

والي: محترم شاه صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم شاه صاحب، محترم قاري عمر ثاقب صاحب، محترم حيدر صاحب

ولایتي استخباراتي رئیس: محترم حیات الله صا حب

ولایتي اقتصادي رئیس: محترم ضرار صاحب

۶) د نوښار ولایت:

والي: محترم مولوي حذیفه صاحب

ولایتي کمېسیون: محترم مولانا ابوبکر صاحب، محترم ملنګ صاحب، محترم حسین احمد صاحب، محترم قاري معاویه صاحب

ولایتي استخباراتي رئیس: محترم قاري معاویه صا حب

ولایتي اقتصادي رئیس: محترم عبدالکریم صا حب

۷) د اورکزو او هنګو ولایت:

والي: محترم معاویه صاحب

ولایتي کمېسیون: محترم بلال بنګش صاحب، محترم مولوي آجل صاحب، محترم معاویه صاحب، ابوبکر اورکزی صاحب

ولایتي استخباراتي رئیس: محترم منصور اورکزی صاحب

ولایتي اقتصادي رئیس: محترم سپین باز صاحب

د قطعې مسئول: محترم ابوبکر اورکزی صاحب

۸) د کرم ولایت:

والي: محترم مولوي احمد کاظم صاحب

ولایتي کمېسیون: محترم درویش وزیر صاحب، محترم موسی صاحب، محترم مولوي سیف الله صاحب، محترم شمس الله صاحب، محترم محمد صاحب

ولایتي استخباراتي رئیس: محترم نظامي صاحب

ولایتي اقتصادي رئیس: محترم درویش وزیر صا حب

د قطعې مسئول: محترم درویش وزیر صاحب

۹) د شمالي پنجاب ولایت:

والي: محترم مولوي عبدالله صاحب

ولایتي کمېسیون: محترم مولوي عبدالله صاحب، محترم شمشیر صاحب

ولایتي استخباراتي رئیس: محترم عیسیٰ خان صا حب

ولایتي اقتصادي رئیس: محترم شمشیر محسود صاحب

د جنوبي زون د ولایتونو تشکیل

۱) د جنوبي وزیرستان ولایت:

والي: محترم مولوي ابو یاسر صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم مولوي عبدالله صاحب، محترم شير اعظم اکا صاحب، محترم رحمت الله صاحب، محترم مولوي احمد يار صاحب، محترم مولوي بدري صاحب، محترم اسد صاحب، محترم حبيب الرحمن دوتاني صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم مولوي اخلاص يار صاحب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم مولوي بدري صا حب

د اولې قطعې مسؤل: محترم مولوي متوکل صاحب

د دوهمې قطعې مسؤل: محترم محمد عادل صا حب

د درېيمې قطعې مسؤل: محترم حامد صاحب

د څلورمې قطعې مسؤل: محترم حافظ صاحب

د پنځمې قطعې مسؤل: محترم ذبيح الله صاحب

د شپږمې قطعې مسؤل: محترم ابو سيف صاحب

۲) د شمالي وزيرستان ولايت:

والي: محترم عاشق وزير صاحب

معاون: محترم غازي عمر عزام صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم افشان داوړ صاحب، محترم شمشاد داوړ صاحب، محترم مولوي تراب صاحب، محترم غازي عمر عزام صاحب، محترم احمد طوري خيل صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم آصف صاحب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم حيدر وزير صا حب

د اقتصادي رئيس معاون: محترم فداء داوړ صا حب

د اولې قطعې مسؤل: محترم گوهر وزير صاحب

د دوهمې قطعې مسؤل: محترم سالار داوړ صاحب

۳) د بنو ولايت:

والي: محترم قاري صلاح الدين صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم صفدر صاحب، محترم فاتح صاحب، محترم عمر خالد صاحب، محترم ميداني بکاخېل صاحب، محترم مولوي جانان صاحب، محترم خاکي صاحب، محترم ذوالفقار صاحب، محترم جلال صاحب، محترم هلال صا حب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم قاري معاويه صا حب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم ياسر صاحب

د اولې قطعې مسؤل: محترم مولوي جانان صاحب

د دوهمې قطعې مسؤل: محترم صادق صاحب

۴) د لکي مروت ولایت:

والي: مولوي ټيپو ګل مروت صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم مولوي سيف الله صاحب، محترم مولوي مستغفر صاحب، محترم رهبر صاحب، محترم محمد صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم مولانا خالد مروت صاحب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم رهبر آشنا صاحب

د قطعې مسئول: محترم مولوي سيف الله صاحب

۵) د ټانک ولایت:

والي: محترم مولوي سيف الرحمن بيټني صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم قاري نجيب صاحب، محترم حافظ رفيق صاحب، محترم مولوي عبدالبصير صاحب، محترم عمر ملنګ صاحب، محترم مولوي ثاقب صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم مولوي عبدالبصير صاحب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم ګرنېټ بيټني صا حب

د قطعې مسئول: محترم مولوي مسرور صاحب

٦) د کرک ولایت:

والي: محترم سيف الاسلام صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم سيف الاسلام، محترم حافظ جلال صاحب، محترم سيف العمر صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم سيف الاسلام صاحب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم فيصل صاحب

۷) د ډېره اسماعيل خان ولایت:

والي: محترم زاهد ګنډاپور صاحب

ولايتي کمېسيون: عمر عادل صاحب، مولوي عبد الغفور صاحب، وليد صاحب، محترم ماما مکي صاحب، محترم مولوي انس صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم وليد صاحب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم عادل صاحب

د قطعې مسئول: محترم ايوب لالا صاحب

۸) د جنوبي پنجاب ولایت:

والي: محترم چوهدري جواد احمد صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم مولوي نذيرالله صاحب، محترم مازديګرى صاحب، محترم عابد بدري صاحب، محترم شعيب صاحب، محترم علي معاويه صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم مولوي اسد

صا حب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم ملا نذير صاحب

۹) د کراچۍ ولايت:

والي: محترم مفتي سعد صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم مفتي مراد صاحب، محترم زعفران صاحب، محترم مولوي مدثر صا حب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم استاد جاويد صا حب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم ياسر صاحب

د غربي زون د ولايتونو تشکيل

۱) د کويټې او هرنايي ولايت:

والي: محترم مولوي خالد صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم هاشم صاحب، قاري احمد صاحب، محترم عبدالوارث صاحب، محترم شمس صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم شهاب الدين بلوچ صاحب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم ظفر صاحب

۲) د ژوب، موسی خيل او شيراني ولايت:

والي: محترم مولوي صلاح الدين صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم زاهد بلوچ صاحب، محترم مطمئن صاحب، محترم مولوي عبدالله عبيد صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم طارق صاحب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم زرقاوي صاحب

۳) د قلعه سيف الله او لورلايي ولايت:

والي: محترم حاجي لالا صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم قاري انس صاحب، محترم مولوي الله نور صاحب، محترم غازي صا حب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم قاري انس صا حب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم خادم صاحب

۴) د پشين او قلعه عبدالله ولايت:

والي: محترم سعادت عمري صاحب

ولايتي کمېسيون: محترم ذاکري صاحب، محترم حذيفه صاحب، محترم مولوي محمود صاحب

ولايتي استخباراتي رئيس: محترم حذيفه صاحب

ولايتي اقتصادي رئيس: محترم ابراهيم شاه صا حب

۵) د مکران ولايت:

والي: محترم مزار بلوچ صاحب

ولایتي کمېسیون: محترم مزار بلوچ صاحب، محترم ابو هریره صاحب، محترم استاد محمد صا حب

ولایتي استخباراتي رئیس: محترم استاد محمد صا حب

ولایتي اقتصادي رئیس: محترم شایسته بابا صاحب

٦) د قلات او سبی ولایت:

والي: محترم حافظ عبید صاحب

د والي معاون: محترم حسین لالا صاحب

ولایتي کمېسیون: محترم حافظ عبید صاحب، محترم حسین صاحب، محترم عفان صاحب

ولایتي استخباراتي رئیس: محترم قاري امجد صا حب

ولایتي اقتصادي رئیس: محترم عفان صاحب

د ٢٠٢٦م کال لپاره د تحریک طالبان پاکستان د مرکزي نشراتي اداري «عمر میډیا» اداري جوړښت او تشکیل

عمومي مسؤل: محترم چودري منیب‌الرحمن جټ صاحب

مرستیال: محترم مولانا خالد قریشي صاحب

د ټولنیزو رسنیو، ویبپاڼې او ژباړو څانګه:

مسؤل: محترم سفیان هزاروي صاحب

لومړی معاون: محترم فیصل شهزاد صاحب

دوهم معاون: محترم ذوالفقار صاحب

د سوشل میډیا د رسنیز ټیم غړي: مولانا زکریا صاحب، عثمان غني صاحب، سیف الله صاحب، یاسر صاحب، سلیم صاحب، ابوالحسن صاحب، خالدي خیبري صاحب، خالد لیزري صاحب، حیدر احرار صاحب، سفیان صاحب، حمیدالله صاحب، یاسر صاحب

د ویډیو سټوډیو (بصري) څانګه:

مسؤل: محترم لقمان صاحب

معاون: محترم جعفر صاحب

د ویډیو سټوډیو غړي: عابد صاحب، وقاص صاحب، سفیان صاحب، محترم سعید سواتي صاحب، عبدالله صاحب

د مجلو او تالیف څانګه:

مسؤل: مولانا خالد قریشي صاحب

معاون: مفتي جلال الدین صاحب

د آډیو سټوډیو (سمعي) څانګه:

مسؤل: محترم هاشم سادات صاحب

د آډیو سټوډیو غړي: عبدالحق طوفاني صاحب، حبیب الله محمدي صاحب

عمر راډیو:

مسؤل: محترم مولوي یاسر صاحب

د راډیو ځانګې غړي: مولوي فاروق صاحب، مولوي عبیده صاحب، حسان مهاجر صاحب، ناصح صاحب

کله چې موږ د عظمت خاوندان وو!

خالد بن ولید رضی الله عنه کسری ته ولیکل: اسلام راوړه، غاړه کېږده، ګنې داسې خلک به درولېږم، مرګ یې داسې خوښ دی، لکه ستاسو چې ژوند خوښ دی.

هرقل معاویه رضی الله عنه ته ولیکل: مونږ خبر شوي یو، چې ستا او علی بن ابي طالب رضی الله عنه ترمنځ لانجه راغلې ده، که تاسو غواړئ، زه مو فوځي مرسته کوی شم.

معاویه رضی الله عنه ورته ځواب کې ولیکل: دا زموږ خپل منځي ستونزه ده، ته دا حق نه لرې، چې مداخله وکړې، قسم په الله تعالی که له دې شیطانی منع نشوې، داسې یو لښکر به درواستوم، چې سر به یې هلته وي او پای یې دلته، ستا سر به پرې کړم او د علی بن ابي طالب

په پښو کې به یې ګوزار کړم.

د عثماني خلافت په دوران کې به د مسلمانانو کښتۍ په مدیترانه کې ګرځېدلې، کله چې به کښتۍ له کوم نصراني ښار څخه تېرېدله، هغوی به له ډاره د کلیسا زنګونه نشو کړنګولی، د کلیسا نغارې به خپ شوې او راهبان به پټ شول.

په منځنیو پیړیو کې د ایټالیه یو راهب بیانیه کوله، ډېر د تأسف ځای دی، چې خپل ځوانان په ژوند د، لباس، اسلوب کې د مسلمانانو څخه متأثره ګورم.

د هند مشرکانو د ناهد په نوم مسلمانه بندي کړه، په یوه غږ یې محمد بن قاسم تر هندوستانه پورې ولاړ.

فرانسوي عسکر د یوې مسلمانې پېغلې حجاب څيرې کړ، عثماني خلافت فرانسوي وواژه او په همدې غچ کې یې د فرانسې په سرحداتو هم حمله وکړه.

(سید اکرام سعیدي)



قانــــــــون

پکې د هر زورَوَر خپل قانون دی
دوه مجرمان، یو دی غریب بل مالدار
دلته مظلوم سره انصاف نه کیږي
څوک به تپوس له جرنیلانو وکړي
بې له قرآن او الهي قانون نه
اصل مجرم ته استثنا ورکوي
هاشم ترې ځکه بغاوت کړی دی

په پاکستان کې د ځنګل قانون دی
یو ته بدل بل ته بدل قانون دی
د ظالمانو سره مَل قانون دی
چې یې مات کړی څوڅوځل قانون دی
هر یو قانون نامکمل قانون دی
د غل ملګری دغه غل قانون دی
دلته مظلوم د لم یَزل قانون دی

هاشم سادات